احتمالوالي شميرنه



ليکونکی: برينکمن(له برينکمن ن ج څخه)

ژباړونکی: ډاکټر سلطان خان (پیروز) شینواری

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې زموږ د بې وزلي او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

د کتاب پيژند

د کتاب نوم احتمالوالي شميرنه

ليکونکی: پروفيسر برينکمن

ژباړی : ډاکتر ماخان ميرږي شينواری

shinwari@Hotmail.de

د خپريدو لړۍ

خپرندوی : د افغانستان کلتوري ودې ټولته

جرمني

چاپ نبټه جولای ۲۰۱۲

چاپځای دانش کتابتون

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

د خپرندوی ټولنې یادښت

له هغې مودې را په دې خوا، چې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې د علمي، ساینسي او طبي اثرو د خپرولو لړۍ پیل کړې، تراوسه یې په دې لړ کې مهم اثار خپلو هیواولو ته وړاندې کړې دي.

موږ باور لرو، چې پښتو ژبه هغه وخت په یوه مهمه غني ژبه بدلیدلای شي، چې د پوهې په ګانه سمبال شي او په علمي او اکاډمیکو اثارو غني شي.

اوس چې زموږ ملي سراسري ژبه د بیلابیلوګواښونو او چلنجونو سره مخامخ ده، پر موږ ټولو ده، چې د دغه ګواښونو په وړاندې به په نره ودریږو او د علم او قلم په ژبه به ځواب ورته ووایو.

د اتحادیې له حوا د ډاکتر ماخان شینواري تراوسه زیاتو چاپ شویو اثارو په څنګ کې، د ده د پنځه وېښت شمیر پوهنې نویو ژباړو او لیکنو او دوه ټولنیزو لیکنو تر منځ، دغه اثر په همدې لړ کې ځکه د ارزښت وړ دی، چې د علمي، ساینسي اثارو د خپراوي په لړ کې د یوه مهم ګام په توګه ګڼل کیدای شي او هیله ده، چې د دې برخې مینه وال لوستوال، زده کوونکي او د پوهنتو زده کړې کتّه ترې واخستلی شي.

په درناوي

د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

۲۰۰۱۲ ز ک

د ژباړي مننه

د هر څه له مخه د هغو ليکونکو پروفيسرانو څخه زياته مننه، چې د ليکنو څخه يې زما د ژباړې لپاره تفاهم لري. ماته د دوي د ليکنو د ژباړې په هيڅ ډول مادي ګټه نه شته او دا کار مې يوازې په يوه د پوهنې توانمندي ، مګر وروسته پاتې ژبې ويونکي ولس ته وړاندې دی، دا دې د دې پروفيسرانو له خوا په پوهنيزه اړخ کې زموږ په دې اړخ کې هم مرستې ته اړ ولس سره مرسته وي.

همدا ډول زموږ،، د افغانسان کلتورې ودې ټولنه،، جرمنې، د غړو، مرستندويانو او په تيره بيا د مشر تابه څخه زياته مننه کوم، چې پرته له خپرندوې ټولنې په توګه يې د دې ليکنو زياته اقتصادي ونډه هم په غاړه اخستې.

دې لاندې زما کليوالو ملګرو او ملګرو د دې کتابونو په چاپ کې د توان سره سمه اقتصادي ونډه اخستې، چې زه ترې زياته مننه کوم:

د ښاغلي ډپلوم انجنير ريحان الدين حساس، ښاغلي ډپلوم انجنير محمد اکبر نور، ښاغلی ډاکتر سردار ګانه وال، ښاغلی ډاکترماښوګل ګانه وال، ښاغلي ټولنپوه محمدعارف بيان، ښاغلي ډپلوم انجنيرمحمد ايوب بيان، همداسې زما د ملګري اروانښاد ډاکتر حاجي محمد سلطانزي د ځوي ښاغلي ډاکتر صالح محمد سلطانزي ، ډپلوم انجنير او ډپلوم اقتصاد پوه رحمت الله فتحي او نه اخر زما د لور ډاکتر څانګې شينواري او زما د ځوي اقتصاد پوه او ټولنساپوه اباسين شينواري.

نه د ټولو په اخر کې زما له ميرمن ښاپېرۍ څخه ډېره زياته مننه، چې زما د ليکنو- نه دا چې مخه يې نه ده نيولې- پوره ملاتړ کړي.

بيا هم له دوي څخه د زړه له کومې مننه کوم او لوي څښتن دې ورته اجرونه ورکړي، چې داسې مرستو ته دوام ورکړي.

په مننه : ستاسو ماخان شينواری

جرمني د بن ښار

۲۰۱۲ ز ک نيوليک

نیولیک

د ژباړي سريزه

ګرانو لوستونکو!

د برينکمن د ليکنو لړۍ د شميرپوهنې په څانګه کې د ښوونځيو لپاره له دري لومړنيو کتابونو پرته نوره هم پسې غزېدلې، چې ما هغه د ګرانو لوستونکو لپاره رازباړلي.

دا احصايه يا ستاتيستک دی او د احتمالوالي شميرنه ده. دا دواړه کتابونه، چې دلته يې تاسو ته ژباړه وړاندېکيږي، هم په زياتو تمرينونو، اود دوی په اوبيونو يا حلونو سره سمبال ده.

زما په اند، داسې ليکنه په پښتو کې د لومړي ځل لپاره کيږي، چې نومه ونې به دلته هم څه ناڅه ګرانو لوستونوکو ته نابلدې وي، خو پرې پوهيدنه شونې ده. هر څه په روښانه توګه ورکړل شوي.

ګرانو هيوادوالو!

داچې ما يوځای يا نوره هم ښه په يوه وار ډېر کار را ونيوه، يعنې يوځای د ډېرو کتابونو ليکنه او ژباړه پيل کړه، نو هرومرو به ناتيکاوي زما له خوا په کې رامنځ ته شوې وي، خو دا به داسې ناتيکاوي نه وي، چې شميرپوهنيزې ستونځې رامنځ ته کړي. له دې کبله له تاسو څخه زما په ستونځو پوهيدلو له امله زياته مننه.

په دې هيله ، چې زما په غوښتنو او ستونځو به و پوهيږي په دې ليکنو او ژباړه کې ما ته هيڅ مادي ګټه نه شته. دا دې په ما زمونږ د بې وزلي ولس د ډېر مصرف(لګښت) په هکله د يوې کوچنۍ پيرزوېنې په حيث وړاندې وي

له هر څه د مخه د دې لکچرونو ليکنو ليکونکو شميرپوهانو څخه زياته مننه، چې کتابونه به يې د افغانستان زده کړو لپاره هم د شمير پوهنې په څانګه کې پوره مرسته وي.

په همدې ډول په المان کې د افغانستان کلتوري وړدې ټولنې څخه هم زياته مننه، چې له خوا يې او په ډېر لګښت د ا کتابونه چاپيږي.

ستاسو ماخان ،، ميرۍ،، شينواری

احتمالوالی شمیرنه

لومړی- . توکلي یا تصادفي تجربه

احتمالوالي شميرنه :

د بختلوبو سره د د مشغوليت ځخه د احتمالوالی تيوري وده وکړه. نن هم د اختمالوالي پوهيدنه په بختلوبو کې کارول کيږي. د بختلوبو ته ورته په طبيعي علومو، اقتصاد، ټولنيزو علومو پيښيدني وړاندوييني او پلانکوني متودونه د تصادفونو په واک کې دي. د احتمالوالي شميرنې دنده په دې کې ده، چې پيښې تز ځيرنې لاندې ونيسي د تصادفي پيښيدو(وتون) سره چې د ممکنه قانونمندۍ سره دا وړاندوييني د ممکنه حلونو رامنځ ته کيدو ته ورسوي.

تصادفي- یا توکلي تجربه

د دانې(شپږ.سترګۍ) يا د لوبو مکعب غورځولو سترګۍعدد(-ګڼ) د تصادف يا توکل په واک کې دی. دا دانه او هر بل د بختلوبې په خوښه زيات واره تکرار کيدونکي عمليې دي، چې د هغو سره د سترګيو عدد د مخه نه شی اټکل کيدی. داسي تجربې تصادفي تجربې بلل کيږي.

تصادفي-توكلي تحربې:

يوه تصادفي تجربه يوه تجربه ده د لاندې خويونو(خواصو) سره:

- د برابرو شرايطو لاندې په خوښه زيات تكراروړ ده.

- لږ تر لږه دوه ممكنې پايلې (لاس ته راوړنې) شتون لري.

- پايله مخ له مخه كتنوړ (ليدوړ) نه ده.

بيلګه :

د يوه ستركيز يا ستركيز مكعب غورځول:

- په خوښه زيات تكراروړ دى.

-لږ تر لږه دوه ممكنه لاس ته راړنې شتون لري.

- پايله مخ له مخه ليدوړ نه ده.

يو پوړيزې تصادفي تجربې:

يو پوړيزې تصادفي تجربې:

كه يوه تصادفي پيښه يوځل منځ ته راوړل شوه ، نو د يوه يو پوړيزې تصادفي پيښې غږيږو يا دا يو پوړيزه تصادفي پيښه بولو.

بيلګه:

	ممكنه نتيجې
يو ځل د يوې دانې يا لوبو مكعب غورځول.	۴
يو ځل د يوې پيسې غورځول	عدد (نه محراب ممبر)
د فوټبال په لوبې بايلونې باندې يو ځلې شرط.	بريا

غوره په یاد لرنه: افغانی چې دوه مخه لري یوه مخ یې چې عدد (ګڼ) وربانديې کښلی دی په Z سره ښايو (له الماني چې عدد یا ګڼ ته وايي) او بل مخ يې چې محراب ممبر پرې کښل شوی ، د W سره ښايو (چې د الماني ځخه رانيول شوی او بیرغ ته وايي. هیله ده چې دا ستونځې به غبرګې سره ګالو).

نتیجه:

د تصادفي پيښې پايله د پايلې يا نتيجې په نامه بولو.

بیلګې:

تصادفی تجربه	نتيجه سټ(- ډېرى)
د یوه سترګيز مکعب یو ځل غورځونه	S = {1; 2; 3; 4; 5; 6}
د یوې پیسې یوځل غورځونه	S={ عدد، محراب ممبر]
د بوسبال ولبې بای باندې یوځلې شرط	S={ وړنه، مساوي، بايلنه}

تمرين:

درې نورې د تصادفتجربې د هغو د پېښو سټ سره ورکړی.

د یوې تصادفي تجربې د نتيجو ډېرئ(- سټ) انځورونه

د نتيجو سټ کيدی شي د سټ ليکدود په ډول يا د ونې دياګرام په توګه هم انځور شي.

د سټ ليکدود په ډول انځورونه	د ونې دياګرام په توګه انځورونه
د یوه ګټونو یا اعدادو مکعب (سترګيزې دانې) یو ځل غورځونه S = {1; 2; 3; 4; 5; 6} پيښه ډېرئ یا -سټ	

یا یوې پیسې یو ځل غورځونه پیښه ډیرئ(- سټ): S= { د پیسي مخ(عدد)، - څټ(ممبرنښان)}	 Zahl Wappen ممبرنښان عدد

د فوټبال د لوبې پای باندې یو خل شرط

پیښه ډیرئ(- سټ): S= {بریا ، برابر، بایلنه}	بریا، برابر بایلنه	

نتیجه او نتیجه سټ:

د تصادفي تجربې نتیجه د ډېرو وتون امکاناتو یو ګونی یا یو ځل وتون دی.

د ټولو ممکنه نتیجو ټولګه د نتیجو سټ (نتیجه -ډېرئ) بلل کیږي.

$$S = \{e_1; e_2; e_3; \ldots; e_n\}$$

ډېر پوړیزه تصادفي تجربې

تصادفي تجربې چې له ریاتو یو په بل پسې یو پوړیزو تجربو توګه وي ، ډېر پوړیزې تصادفي تجربې بلل کیږي.

بیلګه:

دوه واره د یوه کاغذي مېخ یا کاغذ ستن غورځولو نتیجه ډېرئ(-سټ) د یوپوړیزې تجربې سره:

د یوپوړیزه تجربې نتیجه ډېرئ(-سټ)

S= {څوکه، سر } په لنډه بڼه: $S = \{S; K\}$

د ونې دياګرام له لارې انځورونه:



نتيجه د ونې دياګرام څخه ساده لوستل کيږي:

$$S = \{(KK); (KS); (SK); (SS)\}$$

څلور ممکنه نتيجې لرو. په ونه دياګرام کې مو هر تار يوې نتجې ته لارښودوي،

تمرين: په يوه مرتبان کې 2 شنه (g) او يوه اسمانرنګه غونداري(کرې) (b) پراته دی. دوه غوندارې د لاندې قانون له مخې راباسو:

يو په بل پسې په هر ځل يو غونداری اوستل کيږي بې له بېرته وراچونې. ونه دياګرام وکاږئ او نتيجه سټ (- ډېرئ) جوړه کړئ.

ځواب:

ايا د فوټبال لوبې وتون)(يعنې پايونې) باندې شرط اېښوونه يو ه احتمالي تجربه ده؟

شرط په خوښه زيات تکرارورړ دی.

درې ممکنه نتيجې شتون لري(برابليتوب، برابر پاتې کيدنه، بايلودنه)

نتيجه وړاندويينوړ نه ده(يعنې وړاند وييه نه پرې کيږي)

پس د فوټبال لوبې پايونې باندې شرط اېښوونه يوه احتمالی تجربه ده.

حل: درې نورې تصادفي تجربې ورکړئ د هر يوه د نتيجې سټ سره

پورته ته:

د بخت ډولکی: S= {بایلښت، ګټنه}

کتابچه میخ: S = {څوکه، سر}

د بخت څرخی

د 8 برخو سره: S= {1,2,3,4,5,6,7,8

حل: په یوه مرتبان کې *2* شنه غونډاري (غونډوسکې) *(g)* او یو اسمانرنګه غونداري (غنډوسکې) *(b)* پراته دي .

دوه غونډاری(که غواړئ: کرئ) د لاندې قانون سره راوېستل کیږي:

یو په بل پسې دوه ځله هر ځل یو غونډاری بې له بېرته ایښوني یا بې له بېرته د وراچوني سره   راوېستل کیږي..

ونه دیاګرام وکاږئ او نتیجه ست(-ډېری) جوړه کړی.

	نتیجه- سټ S = {(gg); (gb); (bg)}

حل:

په یوه مرتبان کې *2* شنه غونډاري (غونډوسکې) *(g)* او یو اسمانرنګه غونداری (غنډوسکې) *(b)* پراته دي .

دوه غونډاری د لاندې قانون سره راوېستل کیږي:

یو په بل پسې دوه ځله هر ځل یو غونډاری له بیرته ایښوني یا له بیرته د وراچوني سره راوېستل کیږي.

ونه دیاګرام وکاږی او نتیجه ست(-ډېرۍ) جوړه کړی.



نتیجه – سټ

$S = \{(gg); (gb); (bg); (bb)\}$

پوښتنې

تصادفي تجربې، ونه دیاګرام، نتیجې سټ(-ډېرۍ) I

اول – د یوه تصادفي تجربې لاندې څه پوهیږی؟ غوره خویونه یې وښایی.

دویم: څلور تصادفي پیښې د هغو د خویونو سره ورکړی یا په ګوته کی

دریم - د میوو یوه کارتن کې 10 سره باتینګر او 20 زېړ باتینګر د همغه لویوالي سره پراته دي. . د کارتن څخه په پټو سترګو یو په بل پسې باتینګر راوېستل کیږي(بې له بیرته اینوولو سره) ونه دیاګرام وکاږی او د نتیجو سټ(ډېرۍ) S یې سم کړی.

څلورم – په یوه بوتل کې 5زېړ ، 3سره او4 شنه د ښیښو باغکې پرتې دي. د بوتل څخه یو په پل پسې باغکې راوېستل کیږي(بې له بیرته اینسولو) ونه دیاګرام وکاږی او د نتیجو سټ(ډېرۍ) S یې سم کړی.

پنځم-

دوه زده کوونکي A او B یو د بل مخامخ یا که غواړی مقابل د پولوبیلارد لوبې کوي، وړونکی هغه دی، چې به لومړي ځل دوه لوبې وګټي.

ونه دیاګرام وکاږی او د نتیجو سټ(ډېرۍ) S یې سم کړی.

شپږم-

یو کوتۍ 2سره او4 تور غونداري یا غونډوسکې (کرې) لري (یا په کوتۍ کې ... پراته دي). له کوتۍ څخه به پټو سترګو یو په بل پسې غونډوسکې راوستل کیږي(بې له بیرته اېښوولو یا بیرته وراچول)

ونه دیاګرام وکاږۍ او د نتیجو سټ(ډېرۍ) S یې سم کړۍ.

اوم- په یوه خلته کې 7 چکلیټ پراته دي، چې له دې څخه 2 زېړ او 5 سره دي. له خلتې څخه یو په بل پسې 3 چکلیټ راوستل کیږي (بې له بیرته اېښوولو).

څومره شتونوالۍ شتون لرې، چې دا چکلیټ له خلتې څخه راوه وېستل شي؟
اتم - یو د ګڼونو (اعدادو) یعنې نمره یې قلف له درې څرخونو جوړ دی، چې له 1تر 9ګڼونه یا اعداد لري . یو کس دا ګڼې یا نمرې پیژني، خو په خواشینۍ باید وویل شي، چې د نمروو ترتیب یې له یاده وتلی.

څومره امکانات شتون لري، ونه دیاګرام رسم کړۍ. ؛بونه یا اعداد7 ,3 او9 دي.
نهم - دوه بخت څرخونه یا ټېرونه یا کړۍ له درې برابرو برخو (Segments)
څخه چې سرو(r) ، اسماني (b) او شنو(g) دۍ جوړ دي. دواړه څرخونه یو له بل خپلواک به همغه وخت کې څرخول کیږي او په عین وخت کې درول کیږي هم.

بختڅرخونه په نخښه کړۍ. د شرایطو سره یې نتیجې (r , b)ورکړۍ، چې نتیجه د) (b , r سره برابره نه وي. که د نتیجې سټ(ډېرۍ) لپاره برېکړه شوې وي، که څرخونه په برابروخت کې و څرخول او ودرول شي؟ ځواب یې په دلیلونو سمبال کړۍ.
د یوه مسلکي ښوونځي 3 نارینه 2 ښځینه زده کوونکو څخه جوړه ده. پچه اچولکیږي، چې څوک به دې کال کې د شورا مشر او څوک یې مرستیال شي. لومړی ریس او بیا پسې مرستیال ټاکل کیږي.

یو ونه دیاګرام وکاږۍ او نتیجې S یې ورکړۍ.

حلونه (اوبیونې)

تصادفي تجربې، ونه دیاګرام، نتیجې I

مفصل حلونه:

اول : مفصل حل

یوه تصادفی تجربه لاندې خویونه لري:

- د برابرو شرایطو سره په خوښه زیات تکرار کیدونکي دي.
- لږ ترلږه دوه ممکنه نتیجې شتون لري.
- نتیجه له وړاندې نه شي ویل کیدی.

دویم:

تجربه	د حل سټ یا ډېرۍ
الف – د داني یو وار غورځول	$S = \{1; 2; 3; 4; 5; 6\}$
ب – د پیسي یو وار غورځول	$S = \{Z; W\}$
پ – د یوه بخت څرخ د 5برخو سره چې له 1 تر 5 بورې ګڼه یا نمره لری یو وار څرخول	$S = \{1; 2; 3; 4; 5\}$
ت – د یوه مرتبان څخه د2 غونډوسکو یا غونډارو راوېستل چې سره اوتور غونډاری دي.	$S = \{rr; rs; sr; ss\}$

درېیم : مفصل حل (اوبی)

ونه دیاګرام	نتیجې:
	$S = \{rrr; rrg; rgr; rgg; grr; grg; ggr; ggg\}$

څلورم :



$S = \{gg; gr; gb; rg; rr; rb; bg; br; bb\}$

ونه یاګرام 	پنځم : مفصل حل نتيجې: S = { AA; ABA; ABB; BAA; BAB; BB}
ونه یاګرام 	شپږم : مفصل حل نتيجې S = {rrs; rsr; rss; srr; srs; ssr; sss}
	اوم : مفصل حل نتيجې S = {rrr; rrg; rgr; rgg; grr; grg; gg} پس اوه امکانات شتون لي، چې له خلتې چکلیټ راوباسو

اتم:مفصل حل

ونه دیاګرام



S = {379; 397; 739; 793; 937; 973}

ټول 6 امکانات شتون لري.

نهم: مفصل حل

ونه یاګرام



$S = \{rr; rb; rg; br; bb; bb; gr; gb; gg\}$.

دا چې دواړه څرخونه یو له بل خپلواک څرخي، به یو – یا همغه وخت کې څرخول او درول نتیجه کې کوم رول نه لوبوی. سړی کړی شي چې یو څرخ پرلپسې دوه واره و څرخوی.

لسم: ونه یاګرام

مرستیال ریس



ښی یا تور : نارینه ز. کیڼ یا سور: ښځینه ز.

نتيجه : $S = \{ww; wm; mw; mm\}$

دلته w ښځينه او m نارينه زده کوونکي دي.

دويم - په احتمالوالي شميرنه کې پيښې

پيښې

د يوه تصادفی تجربې نتيجه کېدی شي د پيښو په توګه را يوځای شي.

موږ دانې دا يو ځل غورځول په پام کې نيسو.

نتيجه سټ يا نتيجه ډېری له 6 ممکنه نتيجو څخه جوړه ده: $S = \{1; 2; 3; 4; 5; 6\}$

د نتيجې په توګه A تعريفوو: غورځول شوی عدد يا ګڼ جوړه يا جفت دی.

نتيجه ډېری له 3 ممکنه نتيجو جوړه ده: $A = \{2; 4; 6\}$

دا د نتيجې ډېری برخډېری ده . د دې لپاره ليکو: $A \subset S$:

پايله : د يوې تصادفي تجربې نتيجه سټ S هره برخسټ A, B, C, ... پيښه بلل کيږي.

د دې لپاره ليکو: $A \subset S; B \subset S; C \subset S; \ldots$

بيلګه:

يوه پيسه يو په بل پسې پرلپسې غورځول کيږي.

د ونه دياګرام له لارې نتيجه سټ يا د نتيجې ډېری S پيداکيږي.

$$S = \{(ZZZ); (ZZW); (ZWZ); (ZWW); (WZZ); (WZW); (WWZ); (WWW)\}$$

A دې پايله (نتيجه) وي ، داسې چې دوه واره W ولويږي :. سټ A څنګه ده ؟

$A = \{(ZZZ);(ZZW);(ZWZ);(WZZ)\} \quad A \subset S$

تمرین :

B دې پیښه وي، چې Z را ښکاره نه شي. د B سټ څنګه ده ؟

تمرین:

C دې نتیجه وی، چې زیات له زیاته یو ځل Z ښکاره شي. د C سټ کوم دی؟

د پیښو ډولونه چې په یوه څرخ سر، چې 8 برخې (قطاع) لري ، ه رامنځ ته کیږي .

نتیجه سټ (د نتیجو ډېری) : $S = \{1;2;3;4;5;6;7;8\}$

پیښه A : عدد له 9 ګوچنی دی:

$\Rightarrow \quad A = \{1;2;3;4;5;6;7;8\}$

نتیجه A د هرې تصادفي پیښې سره پیښیږي یا رامنځ ته کیږي ، دا متمأنه پیښه بلل کیږي: A = S.

نتیجه B: عدد له 7لوي دی:: $B = \{8\} \quad \Rightarrow \quad :$

نتیجه B فقط یو توکی لري. دا ساده یا بنسټ پیښه بلل کیږي.

پیښه C : عدد له 1 کوچنی دی: لاس ته راځي $C = \{\ \}$ همداسې $C = \varnothing$.

نتیجه $C = \varnothing$ هیڅ وخت نه پیښیږي دا یوه نا ممکنه پیښه ده.

نتیجه D : عدد له 6 لوي دی. . پایله نتیجه $\bar{D}$: عدد کوچنی یا برابر 6 دی. پایله	$\Rightarrow \quad D = \{7;8\}$ $\Rightarrow \quad \bar{D} = \{1;2;3;4;5;6\}$

$D\bar{D}$ د D مخامخ يا معکوسه پيښه ده.

د نتيجه سټ(-ډېرۍ) هغه توکي خوندي لري، کوم چې په کې خوندي نه دي.

سټ - يا ډېرۍ ډوله ليکنه: $\bar{D} = S\setminus D$ ، $\bar{D}$ سټ يا ډېرۍ ده چې له D .

د پيښي او معکوس پيښي ټولنه يا اتحاد نتيجه سټ (- ډېرۍ) $D\cup\bar{D} = S$ ده .

مخامخ يا په څټ يا معکوس پيښي ته بيلګي :

پېښه	معکوس پيښه
A: څلور موټر زيانمن (خراب) دی	$\bar{A}$ لږ تر لږه 5موټر خراب دی
B:لږ تر لږه 2 موبايل (ملفونه) غلا شوي	$\bar{B}$: لږ تر لږه يو موبيل غلا شوی، دا په دې معنا چې هيڅ يا يو موبايل
C: کوم موټر شين نه دی	$\bar{C}$ لږ تر لږه يو موټر شين دی
D: له درې منو څخه ټيک يوه خوټا ده.	$\bar{D}$ I : هيڅ يا دوه يا درې منې خوټا دي.

به ياد لرنه: د دې لپاره چې يوې پيښي ته معکوس پيښه ومومو په لاندې ډول مخ ته ځو:

اول – نتيجه سټ S وټاکی.
دويم : پيښه ډېرۍ يا پيښه سټ و ټاکی

دريم : د پاتې – يا باقي سټ جوړښت څخه معکوس پيښي ډېرۍ جوړې کړی.

حل امکانات د ،،زيات له زياته 4 موټرونه زيانمن دي،، .
د ساده کونې له امله له خورا زيات 6 موټرو څخه مخ ته ځو. ټول د کمبينيشنونو امکانات د جوړ (H) او خراب (D) د پيښو ډېرۍS جوړوي..

$S = \left\{ \begin{array}{l} \left.\begin{array}{l} HHHHHH \\ DHHHHH \\ DDHHHH \\ DDDHHH \\ DDDDHH \end{array}\right\} = A \\ \left.\begin{array}{l} DDDDDH \\ DDDDDD \end{array}\right\} = \bar{A} \end{array}\right.$	د زيات له زيات څلور خرابيو شتونوالی شته د لږ تر لږه پنځه خرابيو شتونوال شتون لري

د حل امکانات ،، لږ .تر لږه 2 ملفونونه غلا شوي،،.
د ساده کوني له امله له خورا زيات 4 موبايلونه غلا شوي مخ ته څو. ټول د کمبينيشنونو امکانات د غلا شوو(G) او نه غلا شوو (N) د پيښو ډېرىS جوړوي..

$S = \left\{ \begin{array}{l} \left.\begin{array}{l} GGGG \\ GGGN \\ GGNN \end{array}\right\} = B \\ \left.\begin{array}{l} GNNN \\ NNNN \end{array}\right\} = \bar{B} \end{array}\right.$	لږ ترلږه د دوه ملفونونو د غلا امکانات شته د لږ تر لږه يوه ملفون غلا امکانات

دوه د حل امکانات د ،، کوم موټر اسماني رنګه نه دی،، لپاره.
د ساده کوني له امله له خورا زيات 4 موټرونو مخ ته څو. ټول د کمبينيشنونو امکانات (B) او نه اسمانينګه (N) د پيښو ډېرىS جوړوي..

$S = \left\{ \begin{array}{l} \left.\begin{array}{l} NNNN \end{array}\right\} = C \\ \left.\begin{array}{l} BNNN \\ BBNN \\ BBBN \\ BBBB \end{array}\right\} = \bar{C} \end{array}\right.$	امکانات چې هيڅ موټر شين نه دی اکانات چې لږ تر لږه يو موټر شين دی

د حل امکانات د ،، له درې منو څخه ټيک يوه منه خوسا ده،، لپاره.
موږ له درې منو څخه پيل کوو. د کمبينشن ټول امکانات د خوسا (F) او نه خوسا (N)
يوه نتيجه ډيرئ (-سټ) S جوړوي..

د يوې منې لپاره امکانات چې خوسا ده امکانات چې يوه، دوه يا هيڅ منه خوسا نه ده.	$S = \begin{Bmatrix} FNN \\ FFN \\ FFF \\ NNN \end{Bmatrix}$ $\{FNN\} = D$, $\{FFN, FFF, NNN\} = \bar{D}$

تمرين: B دې نتيجه وي، چې عدد نه را وځي. د B ډېرى څنګه ده يا کومه ده؟

حل : $B = \{(WWW)\} \quad B \subset S$

يادونه : دا چې د B سټ تيک يو توکى لري، په دې حالت کې له يوې ساده – يا بنستيزې پېښې عبارېږو.

تمرين : C دې نتيجه وي، چې خورا زيات يو ځل عدد را ښکارېږي. د C سټ کوم دى؟

حل :

$$C = \{(ZWW); (WZW); (WWZ); (WWW)\} \quad C \subset S$$

دريم - په احتمالوالي شميرنه کې د پيښو ترڼه

د پيښو ترڼه

يوه دانه يو ځل غورځول کيږي. لاندې دوه پيښې منځ ته راځي.

A : د سترګو عدد (ګڼ) له 3 لوى دى.

B : د سترګو تعداد جوړه (جفت) عدد دى.

يوه نوې پيښه لکه چې ګورو لاس ته راځي :

C : د سترګيو تعداد له 3 لوې دى او د سترګيو تعداد يو جوړه عدد دى.

نتيجه C يوه له A او B جوړه د او-ترڼه ده.

د پیښې C ډېرۍ یا سټ څنګه ده؟

حل: $A=\{4;5;6\}\quad B=\{2;4;6\}\Rightarrow C=\{4;6\}$

د سټ یا ډېرۍ لیکدود له مخې دا په دې معنا دی

د A او B د اوترنه = د A او B غوڅډېرۍ یا قطاع = $C = A \cap B$

تمرین :

یوه نوې پیښه، لکه چې ګورو رامنځ ته کیږي:

D : د سترګیو تعداد یا ګڼون له 3 لوي دی یا د سترګیو عدد (ښه یې تعداد) یو جوړه عدد دی.

دا د پیښه د A اوB څخه یوه د یا – ترنه ده . دD پیښه څنګه لیکلی شو؟

د دې لپاره چې د پیښو ترنې یا عملیی جوړې کړو اړین دی، چې د سټتیوري (ډېرۍ پوهنه) باندې یو څغلند نظر واچوو:

د ډېرۍ پوهنې یا سټ تیوري لنډیزI

د اعدادو(ګڼونو) سټ: د اعدادو سټ د یو له بل کره توپیروړ اعدادو ټولګه ده.

سټونه په لویو لاتین تورو په نخښه کیږي.

بیلګه:

M= {2,4,6,8,10}

2 د M توکی دی	$2 \in M$
6 د M توکی دی	$6 \in M$
3 د M توکی نه دی	$3 \notin M$

د سټونو لپاره ليکندود

ګڼنيزه (د اعدادو له لارې) انځورونه $A=\{1;2;3;4;5\}$

تشريحي انځورونه

په لغاتو يا نوره هم ښه کلمو: A د ټول x سټ دی، کوم لپاره چې باور لري، x له 1 تر 5 پورې يو طبيعي عدد دی.

تش سټ(تشدېرى)

تشسټ کوم توکي نه لري.

سومبول

د تشسټ لپاره برابر ارزښته ويينې يا ا فادې.

د او په معنا دی

د ډېريو يا سټونو لپاره ليکدود

شمېرنيزه انځورونه $A=\{1;2;3;4;5\}$

تشريحي انځورونه $A=\{x|1\le x\le 5\}_{\mathbb{N}}$

په کلمو: Aد ټولو x سټونو ډېرۍ ده، د کومو لپاره چې باور لري

x يو طبيعي عدد دی له 1 تر 5 پورې

تشډېرۍ يا تش سټ $B=\{x|x\in A\wedge x>5\}=\{\ \}$

تش سټ کوم توکي نه لرى

سومبول $\{\ \}=\varnothing$ د تش سټ دليکلو لپاره برابرارزښته ليکندود دی.

$\wedge$ منطقي او بلل کيږي

په ستونو کې عمليې (د ډېريو ترنې)

د A او B د تقاطع سټ (د او غوځډېرئ)

$B = \{e; f; g; h; i; j\}$	$A = \{a; b; c; d; e; f; g\}$
$C = A \cap B = \{e; f; g\}$	د A او B د تقاطع سټ يا غوڅډېرئ $A \cap B$ (A قطعه شوي له B سره)
$A \cap B = \{x \mid x \in A \wedge x \in B\}$	$A \cap B$ ټول هغه توکي لري، چې په A کې او همدې وخت کې په B کې هم پراته وي.
د تقاطع سټ د دوه ستونو ترمنځ يوه د او ـــترنه يا عمليه ده.	$x \in A \cap B$ په دې معنا چې x په A او B کې پروت دی يا د A او B توکی دی.

د ډېريو يا ستونو A او B تولنه يا اتحاد

$B = \{2; 4; 6\}$	$A = \{-4; -2; 1\}$
$A \cup B = \{-4; -2; 1; 2; 4; 6\}$ $A \cup B = \{x \mid x \in A \vee x \in B\}$	$A \cup B$ د A او B ټول توکي خوندي لري
د اتحاد سټ يا تولنډېری د ستونو ترمنځ د يا-ترنه يا عمليه ده	$x \in A \cup B$ بلل کيږي: x په A يا B کې پروت دی يا x په دواړو ډېريو کې پروتدی

د ستونو نخبنې، د منطق نخبنې

د ستونو يا ډېريو نخبنې د دوه ډېريو يا ستونو ترمنځ	غوڅ – يا قطع شوی	$\cap$
	تولنه يا اتحاد	$\cup$
د دوه ډېريو يا ستونو ترمنځ منطقی نخبنې	منطقی او	$\wedge$
	منطقی يا	$\vee$

دA برخدېرى يا سب سټ

وركړ شوي ډېرىB د A يوه برخدېرى ده، ځكه چې د B هر توكى د A توكى هم دى.	$A = \{1; 2; 3; 4; 5; 6\}$ $B = \{2; 4; 6\}$ $B \subset A$ په دې معنا چې B دA برخدېرى ده

د دوه ډېريو A او B كمبنت -ياكمونډېرى (باقي سټ)

د A او B كمبنتډېرى دA ټول هغه توكي لري، چې په B كې نه وي پراته. ليكنه يې: \ لوستنه يې. A بې له B	$A = \{1; 4; 9\}$ $B = \{0; 2; 4; 6\}$ $A \setminus B = \{1; 9\}$ $A \setminus B = \{x \mid x \in A \wedge x \notin B\}$ \ : په دې معنا چې ،،بې،،

$x \in A \setminus B$ په دې معنا چې : x پهA كې پروت دى، مګر نه په B كې

ترلو پيښو ته بيلګې

سترګى مكعب بيا غورځول كيږي. لاندې پيښې كره كيږي:

A: د سترګيو ګڼون يا تعداد يې له څلورو كم دى.

B : د سترګيو تعداد يې يو ناجوړه (طاق) عدد(ګڼ) دى.

C : [4 ; 5]

$A \cap B$ جوړ يا تشكيل كړى او ډېرى يا سټ په لغاتو وليكى.

حل(اوبى):

$$A = \{1; 2; 3\} \qquad B = \{1; 3; 5\} \qquad \Rightarrow A \cap B = \{1; 3\}$$

$A \cap B$: د سترګيو تعداد له څلورو كوچنى او يو ناجوړه يا طاق عدد دى..

$A \cup B$ جوړ کړی او دېری په لغاتو کې تشریح کړی.

ځواب :

$A = \{1;2;3\} \qquad B = \{1;3;5\} \qquad \Rightarrow A \cup B = \{1;2;3;5\}$

$A \cup B$: د سترګیو تعداد له ۴ کوچنی دی او یا یو ناجوړه یا طاق عدد.

$\overline{A} \cap B$ تشکیل کړی او دېری په لغاتو کې تشریح کړی.

ځواب:

د سترګیو تعداد له ۳ لوي دی	$A = \{1;2;3\} \quad \Rightarrow \quad \overline{A} = \{4;5;6\}$
د سترګیو تداد یو ناجوړه عدد دی	$B = \{1;3;5\}$

$\overline{A} \cap B = 5$ د سترګیو تعداد له ۳ لوی او یو ناجوړه یا طاق عدد دی.

$A \cap B$ جوړ کړی او دېری په لغاتو سره تشریح کړی.

ځواب: $A = \{1;2;3\} \qquad C = \{4;5\} \qquad \Rightarrow A \cap C = \{\ \} = \varnothing$

$A \cap B$: د سترګیو تعدا له ۴ کوچنی او ۴ یا ۵ دی

داسي یوه پیښه نازغموړ یا بې قرارداده پیښه بلل کیږي.

نا زغم وړې پیښې:

د دوه پیښو A او B د او –تړنه نازغموړ بلل کیږي .که عوڅدېری یا د تقاطع سټ یې تشه وي، یعني $A \cap B = \varnothing$.

د A او $\overline{A}$ د او- تړنه تل نازغوړ ده، څکه چې باور لري: $A \cap \overline{A} = \varnothing$

پام : تل باور لري:

$E \cup \bar{E} = S$ $\qquad$ $E \cap \bar{E} = \varnothing$

$E \cup S = S$ $\qquad$ $E \cap S = E$

حل (اوبی) :
یوه نوې پېښه ، لکه چې کره کیږي یا ځرګند کتل کیږي، منځ ته راځي:
D : د سترګیو تعداد له ۳ لوي یا د سترګیو تعداد یو جوړه یا جفت عدد دی.
دا پیښه D یو د او-ترنه ده له A او B .
پیښه دېری D څنګه ښکاریږي؟

$A = \{4;5;6\} \quad B = \{2;4;6\} \Rightarrow D = \{2;4;5;6\}$

دا دېری په لیکندود داسي برېښي

د $D = A \cup B$ A او B تولندېری = له A او B د یا- ترنه .

پوښتنې

پیښي او د پیښو ترنه I

لومړی – یوه دانه یو ځل غورځول کیږي.لاندې پیښي په ګڼلووالي لیکنډل ورکړئ.

الف – د سترګیو تعداد له ۳ لوی دی. ب - د سترګیو زیاتون جوړه دی. پ – د ب مخامخ یا معکوس پیښه. ت – نه څلور .

دویم:یوه دانه پرلپسي دوه واره غورځول کیږي. لاندې پیښي په شمیرلي ډول یا د ګڼونو په ډول انځور کړئ.

الف – د سترګیو زیاتون یا جمعه ۵ ده. ب – د سترګیو جمعه جوړه ده او له ۶ لویه. ب – د سترګیو جمعه زیات له زیاته ۴ ده. ت – د سترګیو ضرب ۱۰ دی.

دریم: یو مرتبان ۲ تور او ۴ سره غونډاري خوني لري. د مرتبان څخه پرلپسي غونډاري راوستل کیږي. غونډاري بیرته مرتبان ته نه اچول کیږي. لاندې پیښي تعریفیږي:

الف- لومړی دواړه راوستل شوي غونډاري همغه رنګ لري.

ب- لومړی او اخرنی راوستل شوی غونډاری مختلف رانګونه لري.

پ – وروسته له وروسته له دريمې روستنې ټول سره غونډاري راوستل شوي دي.

ت- له دويمې راوستنې لا يو تور غونډارى په مرتبان کې شته.

يو- ونه دياګرام وکاږئ او نتيجه يې ورکړئ

دوه- ټولې پيښې په شمېرنيز يا زياتيدوني ډول سره ورکړي

درې -هرې پيښې ته هغه مخامخ يا معکوس پيښه ورکړئ په ګڼنيز –يا زياتيدوني ډول.

څلورم: يو زده کوونکى په څلور د شميرپوهنې(رياضي) په سوالونو کار کوي. ښوونکى کار داسي اصلاح کوي، چې په ترتيب د هرې پوښتنې په پاى کې r د ټيک او f د ناټيک لپاره ليکي. لاندې پيښې تعريفيږي:

الف- دريمه پوښتنه ناټيک ده.

ب – لږ تر لږه ۳ پوښتنې ټيک دي.

پ – ټيک درې پوښتنې ټيک دي.

يو- ونه دياګرام وکاږئ او نتيجې يې ورکړئ.

دوه- ټولې پيښې په شميرلي(زياتيدوني) ډول ورکړئ

پنځم –

د يوه غونډاري د نتيجو ډېرئ ده:$S=\{1,2,3,4,5,6\}$

لاندېS برخډيرئ کره کيږي:

$A=\{1,2,3\}$, $B = \{1,2,5,6\}$, $C = \{2,4\}$

الف - وټاکئ $B \cap A$همداسې $A \cap C; B \cap C$ اوى

ب - $\overline{A}$ وټاکې همداسې $\overline{A \cap C}$ او $S \setminus B$.

پ - يوه پيښه $D \subset S$ ورکړئ، داسې چې پيښې A او D نازغموږ دي.

ځوابونه

پيښې او د پيښو ترړنه ۱

مفصل ځوابونه :

لومړی :

د نتيجو ډېری $S=\{1;2;3;4;5;6\}$:

الف - $A=\{4;5;6\}$ ب - $B=\{2;4;6\}$

پ - $C=\bar{B}=S\setminus B=\{1;3;5\}$ ت - $D=\{1;2;3;5;6\}$

دويم -

$$S=\{(1|1);(1|2);(1|3);(1|4);(1|5);(1|6);(2|1);(2|2);(2|3);(2|4);(2|5);(2|6)\}$$
$$\cup\ \{(3|1);(3|2);(3|3);(3|4);(3|5);(3|6);(4|1);(4|2);(4|3);(4|4);(4|5);(4|6)\}$$
$$\cup\ \{(5|1);(5|2);(5|3);(5|4);(5|5);(5|6);(6|1);(6|2);(6|3);(6|4);(6|5);(6|6)\}$$

الف –

$$A=\{(1|4);(2|3);(3|2);(4|1)\}$$

ب –

$$B=\{(2|6);(3|5);(4|4);(4|6);(5|3);(5|5);(6|2);(6|4);(6|6)\}$$

پ - $C=\{(1|1);(1|2);(1|3);(2|1);(2|2);(3|1)\}$

ت - $D=\{(2|5);(5|2)\}$

دريم - الف- نتيجه ډېرئ يا –سټ: سور=r ، تور=s ,

$S=\{ssr;srs;srr;rss;rsr;rrs;rrr\}$



ب-
$A=\{ssr;rrs;rrr\}$ $B=\{ssr;srr;rss;rrs\}$
$C=\{ssr;srs;rss\}$ $D=\{srs;srr;rss;rsr\}$

پ-
$S=\{ssr;srs;srr;rss;rsr;rrs;rrr\}$
$\overline{A}=S\setminus A=\{srs;srr;rss;rsr\}$ $\overline{B}=S\setminus B=\{srs;rsr;rrr\}$
$\overline{C}=S\setminus C=\{srr;rsr;rrs;rrr\}$ $\overline{D}=S\setminus C=\{ssr;rrs;rrr\}$

څلورم: مفصل حل الف-



$S=\{rrrr;rrrf;rrfr;rrff;rfrr;rfrf;rffr;rfff;frrr;frrf;frfr;frff;ffrr;ffrf;fffr;ffff\}$

ب-

$A=\{rrfr;rrff;rffr;rfff;frfr;frff;fffr;ffff\}$ $B=\{rrrr;rrrf;rrfr;rfrr;frrr\}$
$C=\{rrrf;rrfr;rfrr;frrr\}$ $D=\{rrrr;rrrf;rrfr;rrff\}$

پنځم مفصل ځواب:

الف- $B\cup C=\{1;2;4;5;6\}$. $A\cap C=\{2;4\}$ $A\cap B=\{1;2\}$

ب -
$\overline{A}=S\setminus A=\{3;5;6\}$ $\overline{A\cap C}=S\setminus A\cap C=\{1;3;5;6\}$ $S\setminus B=\overline{B}=\{3;4\}$

پ-   او نازغمورې دي، که باور ولري:

او نازغمورې دي، که باور ولري: $A \cap D = \varnothing$

بېلګه:

$$D = \{3; 6\} \Rightarrow A \cap D = \varnothing$$

پوښتنې

پېښې او د پېښو ترړنه II

لومړی – یوه سترګۍ یو ځل غورځول کیږي. لاندې پېښې تعریفیږي:

A : غورځول شوی عدد یا ګڼ له ۴ کوچنی دی.

B : غورځول شوی عدد ناجوړه –یا ټاق عدد دی.

لاندې پېښې په شمیرلشوې بڼه وټاکئ:

الف - $A \cup B$ ب - $A \cap B$ پ - $\bar{A} \cap \bar{B}$

ت - $\overline{A \cap B}$ ټ - $A \cap \bar{B}$ ث - $\overline{A \cup B}$

دویم – یو مرتبان درې سره او پنځه تور غونډاري(کرې) لري. د مرتبا څخه یوپه بل پسې درې غونډاري راوستل کیږي، بې له بیرته وراچونې څخه. لاندې پېښې تعریفیږي.:

A:لومړي دوه غونډارې بیلبیل رنګونه لري.

B : لومړئ او په پای کې وېستل شوي غونډاري همغه یا برابر رنګ لري.

الف: ونه دیاګرام وکاږئ او نتیجه ډېرئ یا سټ یې ورکړئ.

ب- لاندې پېښې په شمیرنیزه بڼه ورکړئ.

$$A; B; A \cap B; \bar{A}; \breve{A} \cup \bar{B}$$

دريم – په لاتري ډول کې 15 لترې پرتې دي، له دې څخه 10 لاترې بيلونکي دي. د لاترې ډول څخه بو په بل پسې دوه لاترې راوستلکيږي. لانمدې پيښې تعريفيږي يا راښوول کيږي:
: فقط بايلونکې راوستل کيږي.
: ټيک ګټونکې لاترې راوځي.
:دا اخر راوستله شوې لاترې بايلونکې ده.
الف- ونه زياګرام وکاږئ او نتجيه ډېرئ يې ورکړئ.
ب- لاندې پيښې واکئ: $D=\overline{A\cup B}$ ؛ او $E=B\cap\overline{C}$.
څلورم – له دوه پيښو A او B څخه پوهيږدو، چې $A\cup B=S$ او $A\cap B=\varnothing$ دي.
د پيښې A او B په هکله څه ويلای شو؟

پنځم - د يوه مرتبان د 100 برابرډوله ، له 1 تر 100 په ګڼه شوييا په شميره شوي غونډارو (يا کرو) څخه يو غونډاری راوستل کيږي.
لاندې پيښې تعريفيږي:
A : تعداد يا ګڼونې په ۸ وېشوړ (قابل تقسيم) دی.
B: تعداد يا ګڼونې په 15 وېشوړ (قابل تقسيم) دی
C : تعداد يا ګڼونې په ۸ يا ۹ وېشوړ (قابل تقسيم) دی
D : تعداد يا ګڼونې يه ۹ يا ۱۵ وېشوړ (قابل تقسيم) دی
E: تعداد يا ګڼونې يه ۱۲ يا ۱۵ وېشوړ (قابل تقسيم) دی
F : تعداد يا ګڼونې يه ۱۲ يا ۱۷ وېشوړ (قابل تقسيم) دی
G : تعداد يا ګڼونې يه ۸ وېشوړ (قابل تقسيم) دی
H : تعداد يا ګڼونې په ۱۲ مګرنه په ۸ وېشوړ (قابل تقسيم) دی.
نتيجه ډېرئ په شميرنيزه توګه(چې ټول د ډېرئ توکي وګڼل شي) ټاکئ.

ځوابونه

د پيښو پيښې او د پيښو ترنه يا نښلونه

مفصل ځوابونه:
لومړی:
الف- $B=\{1;3;5\}$ $A=\{1;2;3\}$ $S=\{1;2;3;4;5;6\}$
ب - $A\cup B=\{1;2;3;5\}$
$A\cap B=\{1;3\}$

پ - $\overline{A} = S\setminus A = \{1;4;6\}$ $\quad \overline{B} = S\setminus B = \{2;4;6\} \Rightarrow \overline{A}\cap\overline{B} = \{4;6\}$

ت- $A\cap B = \{1;3\} \Rightarrow \overline{A\cap B} = S\setminus A\cap B = \{2;4;5;6\}$

ټ- $\overline{B} = \{2;4;6\} \Rightarrow A\cap\overline{B} = \{2\}$

ث - $\overline{A\cup B} = S\setminus A\cup B = \{4;6\}$

دویم:



الف-

د پیښو ډېرئ یا سټ

$S = \{rrr;rrs;rsr;rss;srr;srs;ssr;sss\}$

ب-

$S = \{rrr;rrs;rsr;rss;srr;srs;ssr;sss\}$

$A = \{rsr;rss;srr;srs\}$ $\quad B = \{rrr;rsr;srs;sss\}$

$A\cap B = \{rsr;srs\}$ $\quad \overline{A} = S\setminus A = \{rrr;rrs;ssr;sss\}$

$\overline{B} = S\setminus B = \{rrs;rss;srr;ssr\} \Rightarrow A\cup\overline{B} = \{rsr;rss;srr;srs;rrs;ssr\}$

دریم:

الف-



نتیجې:

$S = \{GG;GN;NG;NN\}$

ب-

$$S = \{GG; GN; NG; NN\}$$

$$A = \{NN\} \qquad B = \{GN; NG\} \qquad C = \{GN; NN\}$$

$$A \cup B = \{NN; GN; NG\} \qquad D = \overline{A \cup B} = S \setminus A \cup B = \{GG\}$$

$$\overline{C} = S \setminus C = \{GG; NG\} \qquad E = B \cap \overline{C} = \{NG\}$$

څلورم: A او B نازغمونږ دي. B <= A = S\B د A مخامخ (په څټ يا معکوس) پيښه ده.

پنځم:

$$S = \{ 1; 2; ..... 99; 100\}$$
$$A = \{ 8; 16; 24; 32; 40; 48; 56; 54; 72; 80; 88; 96 \}$$
$$B = \{ 15; 30; 45; 60; 75; 90 \}$$
$$C = \{ 8; 9; 16; 18; 24; 27; 32; 36; 40; 45; 48; 54; 56; 63; 64; 72; 80; 81; 88; 90; 96; 99 \}$$
$$D = \{ 9; 15; 18; 27; 30; 36; 45; 54; 60; 63; 72; 75; 81; 90; 99 \}$$
$$E = \{ 12; 15; 24; 30; 36; 45; 48; 60; 72; 75; 84; 90; 96 \}$$
$$F = \{ 12; 17; 24; 34; 36; 48; 51; 60; 68; 72; 84; 85; 96 \}$$
$$G = \{ 8; 16; 32; 40; 56; 64; 80; 88 \}$$
$$H = \{ 12; 36; 60; 84 \}$$

څلورم: د نسبي ډېروالي څخه و احتمالوالي ته

نسبي ډېروالی

120   زده کوونکي پوښتل کيږي، چې ايا دوي يو ملفون لري. د دې پوښتنې پايله ده: له 120 زده کوونکو څخه 99 زده کوونکي يو ملفون لري.

پيښه E : زده کوونکی ملفون لري

په دې حالت کې د پيښې   E   مطلق ډېروالی H   99 دی.

دا د حالتونو تعداد یا ګڼون دی، چې پېښې E په کې رامنځ ته کېږي یا پېښېږي.

د نمونه ازمايښت پراخوال یا غیږ په دې حالت کې 120 دی.

د E نسبي ډېروالی د دې لارې ورکړشوی دی: $h(E) = \frac{H(E)}{n} = \frac{99}{120} = 0{,}825$

په ټولیزه توګه باور لري؛

د نمونه ازماېښت څومره والی/د یوې پیښې مطلق ډیروالی= د یوې پیښې ډېروالی

فورمال: $h(E) = \frac{H}{n}$

تمرین: د په څټ – یا معکوس پیښې $\bar{E}$ نسبي ډېروالی وټاکئ او له $h(E)$ او $h(\bar{E})$ څخه جمعه یا زیاتون جوړ کړئ.

ځواب وروسته.

یادونه: د پیښې E او د هغې معکوس پیښې $\bar{E}$ لپاره باور لري:

; $\bar{E}$ gilt: $h(E) + h(\bar{E}) = 1$

د احتمالوالي تعریف:

د احتمالوالي تعریف کې سړی کلاسیکی احتمالوالي تعریف او ستاتیستیکي احتمالوالي تعریف ترمنځ توپیر کوي.

کلاسیکي یا ټولګیز احتمالوالی د یوې بیلګې په بنسټ:

د یوه ایدیال یا ډېر ټیک غورځووني یا سترګي(چې شپږ سترګې لري) څخه سړی داسې مخ ته ځي، چې د 1 او 6ترمنځ هر عدد یا ګڼ د رامنځ ته کیدو لپاره برابر چانس شتون لري.

موړ پېښه E تعریفوو: غورځول شوی عدد 6 دی.

د دې عدد د رامنځ ته کیدو لپاره په لاندې توګه تفریف ورکوو:

د ټولو ممکنه پېښو تعداد/په Eپورې اړونده پېښو تعداد=p=P(E)

تمرین: د یوه جوړه عدد لپاره چې له دوه لوی دی په یو ځل غوروځولو سره احتماوالی وشمیرئ.

حل وروسته راځي.

ستاتیستیکي احتمالوالی د بیلګې په توګه د یوه کاغذ ستن غوروځولو لپاره:

که څوک د کاغذ یوه ستن وغوروځوي، نو دا یا په شا یا په اړخ لوېږیدلې پاتیږي.

 

سړی له دې مخ ته نه شي تللی، چې دلته دې چانس برابر وي. د دې اغیزوالی د کاغذمیخ په جوړیدبنه کې پروت دی. کیدی شیچې دا د کاغذ ستن برابرډوله یا لږ برابرډوله جوړه شوې ده. د دې لپاره چې دلته په احتمالوالي وینا وکړی شو، باید تجربې وکړو.

یوه د کاغذ ستن سل واره غوروځول کیږي، نسبي ډېروالی شمیرل کیږي.

نتیجه			جمعهn
مطلق ډېروالیn_i	44	56	100
نسبي ډېروالی $h(e_i)=\frac{n_i}{n}$	$\frac{44}{100}=0,44$	$\frac{56}{100}=0,56$	$\frac{100}{100}=1$
نسبي ډېروالی په %کې،	44%	56%	100%

تجربې ښايي، چې د جګيدونکو تجربو د تعداد سره پای ارزښت ته سره نږدې کيږي، دا سره ور نږدې(pendelt یا ټال خوري)کيږي.

دا پای ارزښتونه ستاتيستيکي ارزښتونه بلل کيږي.

د دې لپاره چې زموږ د تجربو لپاره يوه د منلو وړ وينا وکړای شو، بايد دا تجربه زياته تکرار شي.

لکه په سترګي يا غورځووني کې ډيروټاکل شي، نو د نسبي ډيروالي خوريدنه د يوه ټاکلي سترګی تعداد رامنځ ته کيدو لپاره په يوه ټاکلي ارزښت رامنځ ته کيدو باندې را تنګيږي يا را ټوليږي، په غورځوني يا سترګۍ کې په   1/6 ارزښت. له دې امله ستاتيستيکي احتمالوالی د پولې ارزښت په حيث تعريفيږي، د ازماېښتونو تعداد د ناپای خواته ځي:

$$p = P(E) = \lim_{n \to \infty} \frac{H(E)}{n}$$

د n سره دتجربو د تعداد په حيث او د H(E) سره د مطلق ډيروالي په حيث.

يادونه: د توکلي ازماېښت د ټاکلو پيښو احتمالوالی د منتظره نسبي ډيروالي لپاره خوراښه وړاندوييڼه يا فرضيه ده.

يوه تجربه دې واضح کړي، چې دپيښو نسبي ډيروالی په يوه ټاکلي ارزښت خوزي يا حرکت کوي، که د ازماېښتونو تعدادپوره ستر وي.

ازماېښت: لس د کاغذ ستني په همغه يا يوه وخت کې وغورځوئ او د پيښو تعداد په پام کې ولرئ.

E :د کاغذ ستني په شا پرتې دي.

دا تجربه په ټوليزه توګه لس واره تکرار کړئ.
دا د تجربې کړنه دې داسې وګڼل شي، چې ګوندې يو د کاغد ستن دې سل واره غورځول شوې وي.دا راټول مطلقه ارزښت دې په يوه جدول کې وکاروئ او نسبي ډيروالی بيا وشميرئ.

ازماېښت نمره	1	2	3	4	5	6	7	8	9	10
ni	10	20	30	40	50	60	70	80	90	100
H(E)راټول شوي	5	9	11	14	18	25	28	42	37	44
$h(E)=\frac{H(E)}{n_i}$	0,5	0,45	0,37	0,35	0,36	0,42	0,4	0,4	0,41	0,44

پورته کې د الماني پښتو په ترتیب: د تجربې نمره، راټول.

که دا تجربه یا ازماېښت له ډېرو کسانو له خوا د برابرو شرایطو لاندې وشي، نو کیدی شي د د تجربو د ډېروالي سره و ارزښتول شي.

دا د بیلګې په توګه د 10 تجربه کسانو د تجربو زیاتوالی یا جمعه کیدنه و 1000 تجربو ته د تعداد جګوالي سره په برابره معنا دی.

دلته هم نسبي ډېروالی وشمیرئ.

په لاندې د الماني پ: د کسانو ګڼه(نمره) ، راټول(ګڼوالی یا زیاتوالی.

د شخص ګڼه Ni (Nr)	1	2	3	4	5	6	7	8	9	10
	100	200	300	400	500	600	700	800	900	1000
راټول H(E)	44	38	42	49	50	48	51	47	42	44
H(E)	44	82	124	173	223	271	322	369	411	455
$h(E)=\frac{H(E)}{n_i}$	0,44	0,41	0,413	0,433	0,446	0,452	0,46	0,461	0,457	0,455

د پورته کېن په ترتیب

نسبي ډېروالی په یوه دیاګرام کې ولیکئ او د نسبي ډېروالي وده تر څېړنې لاندې ونیسئ.

يو انتروال ورکړئ، په کوم کې چې نسبي ډېروالی خوزي یاټال خوري.

د تجربي وتنه باندې کومنتار ورکړئ یا تشريح کړئ.



پورته کيڼ: نسبي ډېروالی، لندې يا کته: ازماېښت
داسې ليدل کيږي، چې نسبي ډېروالی په انتروال [0,45;0,46]=اکي کښته پروته ځغلي يا ټال خوري يا خوزي.

دا تجربه واضح کوي، چې د تجربو د لړ تعداد سره نسبي ډېروالی قوي په يوه ټاکلي عدد ځانګي يا ټال خوري ياور نږدې کيږي.

هر څومره چې د جربو تعداد زيات شي نو دا ارزښت د يوه نسبي ډېروالي يوه ټاکلي ارزښت ته ور نږدې کيږي.

دا ارزښت کيدی شي د ستاتيستيکي احتمالوالي په حيث د پيښې E د پيښيدو لپاره په ګوته شي يا وټاکل شي.

دا زموږ د بيلګي لپاره په دې معنا دی، چې د دې لپاره احتمالوالی چې دکاغذ ستنی په شاپرتې دي د ازښتونو 0,45 او 0,46ترمنځ خوزي يا ټالئ خوري.

د معکوس يا په څټ پيښې لپاره(د کاغذ ستنې په اړخ پرتې دي) احتمالوال د 0,54 او0,55 تر منځ پروت دی.

داپه دې معنا، چې دا استعمال شوې د کاغذستنې د دواړو پيښو رامنځ ته کيدو لپاره(په شا ياپه اړخ) نابرابر احتمالوالی لري.

بيلګه: دا په ځنګ کې د بخت څرخ شپږ برخې لري، ځنې د مختلف لويوالي سره .

نتيجه ډېرئ يا ـــسټ په دې معنا چې S ممکنه پيښې:

S={1,2,3,4,5,6}

موږ دوه پيښې تعريفوو:

A : ګڼه يا نمره جوړه (جفت)ده. لهدې لاس ته راځي:A={2,4,6}

B : ګڼه ناجوړه(طاق) ده له دې لاس ته راځي:B={1,3,5}

که چيرې دا د بختڅرخ په برخو 2, 4 او 6 دريږي، نو وايو، چې پيښه A رامنځ ته شوې ياپيښه شوې ده.

که دا ښودونکی په برخو 1, 3 او 5ودريده، نو پيښه B رامنځ ته کيږي.

لومړی د ساده پيښو احتمالوالی تر ځيرنې لاندې نيسو

$$P(1)=P(3)=\frac{1}{8} \qquad P(2)=\frac{1}{4} \qquad P(4)=P(5)=P(6)=\frac{1}{6}$$

د A پيښې د پيښدو لپاره احتمالوالی په لاندې ډول شميرل کيدی شي:

$$P(A)=P(\{2;4;6\})=P(2)+P(4)+P(6)=\frac{1}{4}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{7}{12}$$

د B پيښې د پيښدو لپاره احتمالوالی په لاندې ډول شميرل کيدی شي:

$$P(B)=P(\{1;3;5\})=P(1)+P(3)+P(5)=\frac{1}{8}+\frac{1}{8}+\frac{1}{6}=\frac{5}{12}$$

تمرين: د A د معکوس – یاپه ځښ پیښي لپاره احتمالوالی وشمیرئ.

ځواب وروسته راځي:

دA د معکوس پیښي $\overline{A}$ یو بل د حل امکانات:

$$P(\overline{A})=1-P(A)=1-\frac{7}{12}=\frac{5}{12}$$

د پیښي S لپار احتمالوالی تل 1 دی، نو P(S)=1.

دا فوراً روښانه ده، ځکه چې یاده پیښي تل رامنځ ته کیږي، د بیلګې په توګه د یوه سترګي غورځولو سره تل یو عدد رامنځ ته کیږي.

د ساده پیښنو ټولګه:

$S=\{e_1;e_2;e_3;\ldots;e_n\}$ د یوه توکلي تجربې پیښنه ډېرئ یا –سټ دی.

$e_1;e_2;e_3;\ldots;e_n$ د هغې ساده پیښي دي، د بیلګې په توګه د غورځوني یا سترګي سره اعداد 1,2,3,4,5 او6 .

نو د احتمالوالي P لپاره باور $0\leq P(e_i)\leq 1$ لري د ټولو i لپاره د 1 تر n پورې.

دا په د ې معنا، چې د یوې پیښي احتمالوالی تل د 0او 1 ترمنځ پروت دی او ناکمیز یا نامنفي دی.

$P(S)=P(e_1)+P(e_2)+P(e_3)+\ldots+P(e_i)=1$ د جمعې یا زیاتون ساده لار.

د A د معکوس پیښي لپاره، یعنې د $\overline{A}$ لپاره تل باور لري:

$$P\left(\overline{A}\right) = 1 - P(A)$$

د يوې ناشونې پيښې لپاره، د بيلګې په توګه په شپږيزسترګي(۶ سترګي مکعب يا غورځوونکي) سره چې يو ۷ وغورځول شي باور لري:

$$P(\varnothing) = 0$$

تمرين: يو سترګی يووار غورځول کيږي. لاندې پيښې کره کيږي.

A : د سترګيو عدد له 4 لوي دی.

B : د سترګيو ګڼ يا عدد ناجوړه يا طاق عدد دی.

C : [4 ; 5]

الف: $E_1 = A \cap B$

$P(E_1)$ وټاکئ او E_1 د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ب- $E_2 = A \cup B$

$P(E_2)$ وټاکئ او E_2 د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

پ- $E_3 = \overline{A} \cap B$

$P(E_3)$ وټاکئ او E_3 د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ت- $E_4 = A \cap C$

$P(E_4)$ وټاکئ او E_4 د کلمو يا لغاتو سره تشريح کړئ.

ځوابونه وروسته:

د لاپلاس تجربه Laplace- Experimente

موږ تر اوسه د توکلي تجربو دوه مختلف ډولونه وپیژندل.

۱ – داسې له دوه برابر احتمالي وېش سره.

۲ – داسې له نابرابر احتمالوالي وېش سره.

لومړي ګروپ پورې اړه لري:

- د یوه (شپږ) سترګي غورځول.
- د یوې پیسې غورځول.
- د یوه بخت څرخي څرخول د برابر لویو برخو یا توتوSegmenten سر.

په دویم ګروپ پورې اړه لري:

- د یوه کاغذستن غورځول.
- د یوه بخت څرخ ګرځول د نابرابر لویو برخو سره.

د لاپلاس تجربه:

که د یوې توکلي یا تصادفي تجربې ټولې ممکنه نتیجې(لومړی ګروپ) برابر احتمالوالی لري، نو سړی د لاپلاس تجرې څخه غږیږي یا دا د لاپلاس تجربه بولي.

نو که سړی هره نتیجه د احتمالوالي (د ټولو ممکنه نتیجو تعداد / p=1) سره تنظیم کړي، نو دا د یو مودل -نیونه یا -- فرضیه (لاپلاس – مودل) ده.

د لاپلاس د تجربي سره د یوې نتیجې د احتمالوالي (P(E لپاره باور لري:

د ټولوممکنه نتیجو تعداد / په E پورې اړونده نتیجه=P(E)

تمرین: یو د بخت څرخ لس برابرې برخې لري.

E : ښوونی یا ښوونستن په یوه په درې وېشوړ عدد باندې دریدلی پاتیږي.

P(E) وټاکئ.

د دې لپاره احتمالوای څومره لوي دی، چې ښوونی په یوه عدد ودریږي، چې په درې وېشوړ نه دی.

حل وروسته:

تمرین:

په یوه مرتبان کې دوه او درې سره غونډاري شتون لري. یو ځل راوستل کیږي.
الف- د کوم احتمالوالي سره راوستل شوی غونډاری تور دی؟
دوریم: څومره تر غونډاري باید په مرتبا کې پراته وي، د تور غونډاري د راوستلو لپاره احتمالوالی له 0,7 څخه لوی وي؟

تمرین: د په ځت – یا معکوس پیښې $\bar{E}$ نسبي ډېروالی وټاکئ او له $h(E)$ او $h(\bar{E})$ څخه جمعه یا زیاتون جوړ کړئ.

ځواب: دا مخامخ –یا معکوس پیښه $\bar{E}$ ده. زده کوونکی ملفون(موبایل) نه لري.

له دې سره د $\bar{E}$ نسبي ډیروالی دی:

$$h(\bar{E}) = \frac{H(\bar{E})}{n} = \frac{21}{120} = 0{,}175$$

جمعه یا زیاتون:

$$h(E) + h(\bar{E}) = 0{,}825 + 0{,}175 = 1$$

تمرین: د یوه جوړه عدد لپاره چې له دوه لوی دی په یو ځل غوروځولو سره احتماوالی وشمیرئ.

ځواب:

نتیجه ډېرئ له ۶ ممکنه پیښو جوړه ده: $S = \{1; 2; 3; 4; 5; 6\}$

پیښنه ډېرئ له ۲ ممکنه نتیجو جوړه ده: $E = \{4; 6\}$

له دې سره، چې یو جوړه عدد له ۲ څخه لوي وغورځول شي، د احتمالوالي لپاره باور لري:

$$p = P(E) = \frac{2}{6} = \frac{1}{3} = 0,\overline{3}$$

تمرین: د A د معکوس – یاپه څټ پیښې لپاره احتمالوالی وشمیرئ.

ځواب: نتیجه ډېرئ یا –سټ S له عددونو 5 ,4 ,3 ,2 ,1 او 6 جوړه ده.

پیښې A پورې جوړه عددونه 2, 4 او 6 اړه لري. د A سره معکوس پیښه د کمبنتډېرئ یا تفریق سټ له لارې میدل کیږي.

$$\overline{A} = S \setminus A = \{1; 3; 5\}$$

په تصادفي ډول B دا همدا اوس پیښنه سټ یا –ډېرئ ده، چې ارزښت $P(B) = \frac{5}{12}$ یې شمیرل شوی دی.

تمرین: یو سترګی یووار غورځول کیږي. لاندې پیښې کره کیږي.

A : د سترګیو عدد له 4 لوي دی.

B : د سترګیو ګڼ یا عدد ناجوړه یا طاق عدد دی.

C : [4 ; 5]

الف: $E_1 = A \cap B$

$P(E_1)$ وټاکئ او E_1 د کلمو یا لغاتو سره تشریح کړئ.

ب- $E_2 = A \cup B$

$P(E_2)$ وښاکئ او E_2 د کلمو یا لغاتو سره تشریح کړئ.

پ- $E_3 = \overline{A} \cap B$

$P(E_3)$ وښاکئ او E_3 ؛ د کلمو یا لغاتو سره تشریح کړئ.

ت- $E_4 = A \cap C$

$P(E_4)$ وښاکئ او E_4 د کلمو یا لغاتو سره تشریح کړئ.

ځواب: الف-

$$A = \{1;2;3\} \qquad B = \{1;3;5\} \qquad \Rightarrow E_1 = A \cap B = \{1;3\}$$
$$P(E_1) = P(1) + P(3) = \frac{1}{6} + \frac{1}{6} = \frac{1}{3}$$

E_1: د سترګئ عدد له ۴ لوي او یو ناجوړه(طاق) عدد دی؟

ب-

$$A = \{1;2;3\} \qquad B = \{1;3;5\} \qquad \Rightarrow E_2 = A \cup B = \{1;2;3;5\}$$
$$P(E_2) = P(1) + P(2) + P(3) + P(5) = \frac{1}{6} + \frac{1}{6} + \frac{1}{6} + \frac{1}{6} = \frac{2}{3}$$

E_2: تعداد له ۴ لوی دی یا یو ناجوړه (طاق) عدد دی.

پ –

دسترګیو تعداد له ۳ لوی دی. د سترګیو تعداد یو ناجوړه یا طاق عدد دی	$A = \{1;2;3\} \Rightarrow \overline{A} = \{4;5;6\}$ $B = \{1;3;5\}$ $E_3 = \overline{A} \cap B = \{5\}$ $P(E_3) = P(5) = \frac{1}{6}$

E_3 : د سترګیو تعداد له ۳ لو دی او یو ناجوړه عدد دی.

ت-

$$A = \{1;2;3\} \qquad C = \{4;5\} \qquad \Rightarrow E_4 = A \cap C = \{\ \} = \varnothing$$
$$P(E_4) = P(\varnothing) = 0$$

E_4 : د سترګیو تعداد له۴ کوچنی دی او۴ یا ۵ دی.

داسې یوه پیښه نامناسب بې مصلحته یا ناغوښتونې یا که غواړئ نازغموړ بلل کیږي له دې امله د E_4 د رامنځ ته کیدو احتمالوالی صفر دی.

تمرین: یو د بخت څرخ لس برابرې برخې لري.

E : ښوونی یا ښوونستن په یوه په درې وېشوړ عدد باندې دریدلی پاتیږي.

P(E) وټاکئ.

د دې لپاره احتمالوای څومره لوي دی، چې ښوونی په یوه عدد ودریږي، چې په درې وېشوړ نه دی.

ځواب:

$$S = \{1;2;3;4;5;6;7;8;9;10\} \qquad E = \{3;6;9\} \quad \Rightarrow P(E) = \frac{3}{10} = 0{,}3$$
$$P(\bar{E}) = 1 - P(E) = 1 - 0{,}3 = 0{,}7$$

تمرین: په یوه مرتبان کې دوه او درې سره غونداري شتون لري. یو ځل راوستل کیږي.

الف- د کوم احتمالوالي سره راوستل شوی غونداری تور دی؟

دوریم: څومره تر غونداري باید په مرتبا کې پراته وي، د تور غونداري د راوستلو لپاره احتمالوالی له 0,7 څخه لوی وي؟

ځواب-

الف-

د ونې دیاګرام له لارې حل. احتملوال چې تور غونډاری راووستل شي 2/5 دی، یو سور چې راووستل شي 3/5 دی. احتمالوالی په اړونده تار لیکل کیږي.	

ب- په مرتبان کې x تور او 3 سره غونډاري پراته دي.

په مرتبان کې ټول x + 3 غونډاري شتون لري.

E :راوستلی غونډاری تور دی.

اینبوونه: $P(E) > 0,7$

$$P(E) = \frac{x}{x+3} \quad \Rightarrow \frac{x}{x+3} > 0,7$$

$$\Leftrightarrow x > (x+3)\cdot 0,7 = 0,7x + 2,1 | -0,7x$$

$$\Leftrightarrow 0,3x > 2,1 | : 0,3$$

$$\Leftrightarrow x > 7$$

باید په مرتبانکې لږ ترلږه ۸ تور غونډاري شتون ولري چې له دې سره داسي لږ ترلږه د 0,7 احتمالوالي سره یو غونډاری راووستل شي

پوښتنې

نسبي ډېروالی، احتمالوالی

لومړی:

په لیکني بیالوژي ازموېنه کې لاندې نمرې ورکړ شوي دي:

یادونه: په المان کې نمري له ۱ تر۵ پورې ورکول کیږي، چې په ۵نمرو سړی ناکام دی

3; 4; 3; 2; 3; 1; 5; 5; 4; 3; 3; 2; 1; 4; 2; 5; 4; 2; 4; 3

الف- یو د ډېروالي جدول جوړ کړئ او نسبي ډېروالی وشمرئ.

ب- وېشنه په یوه ګردئ- یا دایروي دیاګرام انځور کړئ.

پ-یو د ازموینې کاندید تصادفي ټاکل کیږي. د کوم احتمالوالي سره هغه یوه ۱ اخستې؟

ت- یو د ازموینې کاندید تصادفي ټاکل کیږي. د کوم احتمالوالي سره هغه یو ۲ یا ۳ لیکلې یا اخستې؟

دویم: د یوې توکلي یا تصادفي ازماښت نتیجې لپاره احتمالوالي $p = 0{,}73$ دی. دا نتیجه به څومره واره رامنځ ته شي، که دا ازماښت 350 ځله سرته ورسول شي.

دریم: د یوه مسلکي کالج د زده کوونکو ستاتیستیک یا احسایه د په څلور پټیز- یا ساحوي تختو کې په لیست شوې داتا څخه را اخستل کیږي.

M معنا: زده کوونکی نارینه دی. د F معنا: د FORپه حیث د زده کوونکو وتون استعداد. Summe =زیاتون.

	M	$\bar{M}$	Summe
F		1200	1680
$\bar{F}$	672		1812
Summe	1152		3492

الف- دا پاتې یا باقي ډېروالی وشمیرئ او دا په یوه څلور سطحیزتخته باندې ولیکئ.

ب - نسبي ډېروالی و ټاکئ او دا په یوه څلورپټي یا سطحیزه تخه ولیکئ.

پ- یو نفر تصادفي ټاکل کیږي.

اول. دا د کوم احتمالوالي سره نارینه دی؟

دوه. د کوم احتمالوالي سره دا د FOR د ننوتنې(داخیلدو)اجازه لري؟

درې: د کوم حتمالوالي سره دا کس ښځینه دی. او FOR نه لري؟

څلور: د کوم احتمالوالي سره دا کس نارینه او FOR لري؟

ځلورم:په یوه مسلکي ښوونځي کې 2680 زده کړي دي، له دې څخه 480 په یوه سپورت کلوب کې دي. اجتمالوالی څومره لوي دی، چې هغه زدهکړی(نازینه یا ښځینه)، چې تفریحمیدانکي ورسره مخامخ کیږو، په کوم سپورت کلوب کې نه دی؟

پنځم: د لوبو سترګي یو ځل غورځولو کې د لاندې پیښو لپاره احتمالوالی څومره دی؟

A : لږ تر لږه ۳ . B: د ۱ او ۶ ترمنځ C: لومړنی عدد

D: د درې څو واره یا څو ـله. E : جوړه عدد له ۴ لوی F: ۱ یا ۶.

ځوابونه

نسبي ډېروالی، احتمالوالی ا

مفصل ځوابونه   لومړی: الف-

	1	2	3	4	5	Summe
نمرې	1	2	3	4	5	Summe
مطلق ډېروالی	2	4	6	5	3	20

ب-

نمرې	1	2	3	4	5
نسبي ډېروالی	$\frac{2}{20}=0,1$	$\frac{4}{20}=0,2$	$\frac{6}{20}=0,3$	$\frac{5}{20}=0,25$	$\frac{3}{20}=0,1$

د نمرو وېشنه



پ $P(1)=\frac{2}{20}=\frac{1}{10}=0{,}1$	$P(2 \vee 3)=P(2)+P(3)$ $=\frac{4}{20}+\frac{6}{20}=\frac{10}{20}=\frac{1}{2}=0{,}5$

دويم:

د احتمالوالي د ډېروالي تشريحکونه يا څرګنده ونه يا معنا .

که د يوې تصادفي پيښې ټاکلې نتيجې احتمالوالی p لري، نو بيا تشخيص کوو، چې د يوه ستر ګڼ يا عدد n تجربو کولو وروسته به نتيجه نږدې n.p-ځله رامنځ ته شي.

د p=0,73او n=350 سره به n.p=350.0,73=255,5~256 شي.

که هرڅومره د تجربو تعداد ډېر شي، په همغه کچه به وړاندوينه پوره وي.

دريم: الف-

	M	$\overline{M}$	Summe
F	$1152-672=480$	1200	1680
$\overline{F}$	672	$1812-672=1140$	1812
Summe	1152	$1200+1140=2340$	3492

ب-

	M	$\overline{M}$	Summe
F	$\frac{480}{3492}\approx 0{,}137$	$\frac{1200}{3492}\approx 0{,}344$	$\frac{1680}{3492}\approx 0{,}481$
$\overline{F}$	$\frac{672}{3492}\approx 0{,}192$	$\frac{1140}{3492}\approx 0{,}326$	$\frac{1812}{3492}\approx 0{,}519$
Summe	$\frac{1152}{3492}\approx 0{,}330$	$\frac{2340}{3492}\approx 0{,}670$	$\frac{3492}{3492}=1$

پ-

P. O (لومړی کس)	$= \frac{1152}{3492} \approx 0,330$
p.۲ (کس FOR لري)	$= \frac{1680}{3492} \approx 0,481$
p.۳ (کس ښځینه دی او FOR لري)	$= \frac{1140}{3492} \approx 0,326$
p.۴ (کس نارینه او FOR لري)	$= \frac{480}{3492} \approx 0,137$

څلورم:

A : زده کوونکی په سپرت کلوب کې دی:

B: زده کوونی په سپورت کلوب کې نه دی.

$$P(B) = 1 - P(A) = 1 - \frac{480}{2680} \approx 0,82$$

احتمالوالی، چې یو زدهکوونکی سره د تفریح انګړ مخامخ شي، چې په سپورت کلوب کې نه دی نږدې 0,82 دی.

پنځم:

$$A = \{3;4;5;6\} \Rightarrow P(A) = \frac{4}{6} = \frac{2}{3} = 0,\bar{6} \qquad B = \{2;3;4;5\} \Rightarrow P(B) = \frac{4}{6} = \frac{2}{3} = 0,\bar{6}$$

$$C = \{2;3;5\} \Rightarrow P(C) = \frac{3}{6} = \frac{1}{2} = 0,5 \qquad D = \{6\} \Rightarrow P(D) = \frac{1}{6} = 0,1\bar{6}$$

$$E = \{2\} \Rightarrow P(E) = \frac{1}{6} = 0,1\bar{6} \qquad F = \{1;6\} \Rightarrow P(F) = \frac{2}{6} = \frac{1}{3} = 0,\bar{3}$$

پوښتنې

نسبي ډېروالی، احتمالوالی II

لومړی: د یوې لیسې د زده کوونکو یوځایوالي په هکله معلومات لرو.:

په برخه I کې 340 هلکان او320 نجونه دي. په برخه II کې 150هلکان او 190 نجونه دي.

الف- یو څلورساحه یي جدول یا تخته وکاږه او نسبي ډېروالی وشیره.

ب-په کوم احتمالوالي یو توکلي ټاکلی زده ککونکی یا زده کوونکې د برخې I دی؟

پ- په کوم احتمالوالي سره یو توکلي تاکل شوی کس په برخه II کې او یوه نجلۍ ده؟

دویم: د ګټلو احتمالوالی او دګټلو چانس.

الف- په یوه تصادفي ازماېښت کې د ګټنې لپاره چانس:

(۱)۱ و ۳ ته (۲) ۱ و۱ ته (۳) ۲ و ۳ ته (۴) ۴ و۳ ته (۵)a وb ته

په نومولو حالتونو کې د ګټلو احتمالوالی څومره لوی دی؟

ب- د یوې ګټنې لپاره احتمالوالی دی:

$(1)\ \frac{1}{3} \quad (2)\ 0{,}6 \quad (3)\ 40\% \quad (4)\ \frac{3}{4} \quad (5)\ \frac{c}{d}$

په هر یوه یوګوني حالت کې د ګټلو چانس څومره دی.

دریم: په یوه مرتبان کې درې تور، اوه شنه او شپږ سره غونډاري شتون لري یا اچول شوي دي. سپین یو غونډاری راوباسي.

الف – د کوم احتمالوالي سره دا غونډاری سور دی؟

ب – دکوم احتمالوالي سره دا غونډاری تور دی؟

پ – د کوم احتمالولي سره دا غونډاری سور نه دی؟

څلورم: په یوه ښوونځي ټولټال له 1250 ښځینه زده کوونکو او نارینه زده کوونکود ټول پوښتنې نتیجه وه، چې % 4,4 د نجونو او %6,4 د هلکانو لمبیدونکي نه دي. په ټولیزه توګه دا ورکړل شوه، چې په ښوونځي کې %5,2 نه لمبیدونکي دي.

الف- د ورکړ شوو داتا په لاس لرلو سره د مطلق ارزښت او نسبي ارزښت سره یو څلورسطحیز تختې جدول پیدا کړئ.

ب- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یوه نجلۍ ده؟

پ- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یو هلک دی چې لمبیدلای شي؟

ج- د کوم احتمالي سره دا توکلي ټاکلی کس یوه نجلۍ ده، چې لمبیدلای نه شي؟

پنځم: په یوه مرتبان کې 3 سره، 5شنه او 4 تور غونډاري پراته دي. یو غونډاری راوستل کیږي.

لاندې پیښې تعریف دي:

A : یو شین غونډاری راوستل کیږي.

B : یو سور غونډاری راوستل کیږی.

C : راوستل شوی غونډاری شین ن ه دی.

D : راوستل شوی غونډاری سور نه دی.

E : راوستل شوی غونډار ی نه شین او نه سور دی.

الف- د ټول پیښو احتمالوالی وشمیرئ.

ب- د پیښو A او Bد ,یا , احتمالوالی وشمیرئ، دا پیښه په متني لیکلې بڼه څنګه ده؟

پ- د F د معکوس یا پهڅټ پیښې احتمالوالی وشمیرئ. دا پیښه په متن څنګه لیکل کیږي؟

ځوابونه

نسبي ډېروالی، احتمالوالی II

مفصل ځوابونه

لومړی:

الف-

	J	M	Summe
SI	340	320	660
SII	150	190	340
Summe	490	510	1000

	J	M	Summe
SI	0,340	0,320	0,660
SII	0,150	0,190	0,340
Summe	0,490	0,510	1

ب- p(زده کوومکي په برخهI کې)=0,66

پ- p (زده کوونکي په برخه IIکې او يوه نجلۍ)=0,19

دويم: الف- د ۱ و ۳ ته د د ګټې چانس کيدی شي سړی يو د مرتبان تجربه په خيال کې راوړي. په يوه مرتبان کې يو سور غونډاری(ګټنه) او ۳ تور غونډاري (بايلنه) پراته دي. فقط يو ځل راوستل کيږي. په دې حالت کې احتمالوالی چط يو سور غونډاری راووېستل شي 0,25 دی.

ب-

$(1)\quad p=\frac{1}{3}=\frac{1}{1+2}\Rightarrow$	د ګټې چانس ۱ و ۲ ته
$(2)\quad p=0,6=\frac{6}{10}=\frac{3}{5}=\frac{3}{3+2}\Rightarrow$	د ګټې چانس ۳ و ۲ ته
$(3)\quad p=40\%=0,4=\frac{4}{10}=\frac{2}{5}=\frac{2}{2+3}\Rightarrow$	د ګټې چانس ۲ و ۳ ته
$(4)\quad p=\frac{3}{4}=\frac{3}{3+1}\Rightarrow$	د ګټې چانس ۳ و ۱ ته
$(5)\quad p=\frac{c}{d}=\frac{c}{c+(d-c)}\Rightarrow$	د ګټې چانس c و d-c ته

دريم:

s تور، b شين، r سور له دې سره E={s,s,s,b,b,b,b,b,b,b,r,r,r,r,r}

$$P(s)=\frac{3}{16}\qquad P(b)=\frac{7}{16}\qquad P(r)=\frac{6}{16}$$

الف-
$$P(r\vee b)=P(r)+P(b)=\frac{6}{16}+\frac{7}{16}=\frac{13}{16}=0,8125$$

ب-
$$P(s\vee r)=P(s)+P(r)=\frac{3}{16}+\frac{6}{16}=\frac{9}{16}=0,5625$$

پ- $P(r) = 6/16$ نه سور په دې معنا، چې د سره مخمخ يا معکوس پيښنه

$$\bar{P}(r)=1-P(r)=1-\frac{6}{16}=\frac{10}{16}=\frac{5}{8}=0,625$$

څلورم: الف-

	M	J	Summe
S			
N			
Summe			1250

Summme زياتون يا جمعه
J ځوانان
M نجونې
S لمبيدونکي
N نه لمبيدونکي

5,2% په ښوونځي کې نه لمبيدونکي په معنا چې

65 =1250.0,052 نه لمبيدو ونکي ښوونخي کې شته دی.

له دې سره په ښوونخي کې 1250-65=1185 لمبيد

لمبيدنکيونکي په ښوونځي کې شتون لري.

په ښوونخي کې دې د نارينه او ښځينه زده کوونکو تعداد دې وي: x+y=1250

له دې سره په ښوونځي کې د نه لمبيدونکو تعداد 0,044x+0,064=65 دی(دوه کرښيز
مsاوات د دوه مجهولو يا ناپيژندونکوسره)

x	y	
1	1	1250
$\frac{44}{1000}$	$\frac{64}{1000}$	$65 \mid \cdot 1000$
1	1	$1250 \mid \cdot 44$
44	64	65000
44	44	55000
44	64	$65000 \mathrm{II} - \mathrm{I}$
44	44	55000
0	20	10000

$$20y = 10000 \mid : 20$$
$$\Leftrightarrow y = 500$$
$$44x + 44 \cdot 500 = 55000 \mid - 44 \cdot 500$$
$$\Leftrightarrow 44x = 33000 \mid : 44$$
$$\Leftrightarrow x = 750$$

په ښوونځي کې ۷۵۰ نجونې او ۵۰۰ هلکان شتون لري

د نجونو 4,4% نه شي لمبلی، دا نږدې 33=0,044 .750 دي، د هلکانو6,4% نه شي لمبلی، دا 32=500.0,064 دي،

دا اوس د راته روښانه ارزښتونو سره به څلور تخته ییزه جدول پوره شي.

	M	J	Summe
S	717	468	1185
N	33	32	65
Summe	750	500	1250

	M	J	Summe
S	$\frac{717}{1250} = 0,5736$	$\frac{468}{1250} = 0,3744$	$\frac{1185}{1250} = 0,948$
N	$\frac{33}{1250} = 0,0264$	$\frac{32}{1250} = 0,0256$	$\frac{65}{1250} = 0,052$
Summe	$\frac{750}{1250} = 0,6$	$\frac{500}{1250} = 0,4$	$\frac{1250}{1250} = 1$

ب - د دې لپاره احتمالوالی P (A) = 0,6 دی، د یوه توکلي ټاکنې سره، چې یوه نجلۍ وټاکل شي.

پ- د دې لپاره احتمالوالی P (B) = 0,3744 دی، د یوه توکلي ټاکنې سره، چې یو هلک وټاکل شي، چې نه شي لمبیدی.

ت- د دې لپاره احتمالوالی P (C) = 0,0264 دی، د یوه توکلي ټاکنې سره، چې یوه نجلۍ وټاکل شي، چې نه شي لمبیدی.

پنځم: الف- schwarz grün rot په ترتیب له کیڼ ښي لور ته: سور، شین، تور

$$E=\left\{\underbrace{r;r;r}_{3};\underbrace{g;g;g;g;g}_{5};\underbrace{s;s;s}_{3}\right\}$$

$$P(A)=\frac{5}{12} \qquad P(B)=\frac{3}{12}=\frac{1}{4}$$

$$P(C)=1-P(\text{grün})=1-P(A)=1-\frac{5}{12}=\frac{7}{12}$$

$$P(D)=1-P(\text{rot})=1-P(B)=1-\frac{1}{4}=\frac{3}{4}$$

$$P(E)=P(\text{schwarz})=\frac{4}{12}=\frac{1}{3}$$

ب-

$$P(A\cup B)=P(A)+P(B)=\frac{5}{12}+\frac{1}{4}=\frac{2}{3}$$

راوستلی غونډاری شین یا سور دی.

پ-

$$P(\bar{E})=1-P(E)=1-\frac{1}{3}=\frac{2}{3}$$

دپیښې متن: راوستلی غونډاری تور نه دی.

پنځم - دډېرپوړیز تصادفي ازمايښتونو احتمالوالی

پنځم: ډېرپوړیز تصادفي ازمايښت

زیات وخت داسې تصادفي ازمایني کیږي، چې له یوه ځخه زیاتو ازمايښتونو (تجربو)څخه منځ ته راغلې وي.

دا ازماېښتونه د زیاتو یو په بل پسې یو پوړیزو ازمایښتونو رایوځای شوي دي.
بیلګه یې د سیکې یا پیسې غورځول:
په همغه یا عین وخت کې دوه پیسې غورځول کیږي، چې دواړه مخونو څخه یې ممبرنښان په W او ګڼ یا عدد یې په z سره په نخښه کوو. ټولې ممکنه(شونې) لاس ته راوړنې په لاسته راوړونډېرئ(په لاس ته راوړونست) کې رایوځای کیږي. S = { ww ; wz ; zw ; zz } .
احتمالوالی ساده ټاکل کیږي: (Laplace- Experiment د لاپلاس تجربه).

$$P(ww) = P(wz) = P(zw) = P(zz) = 0,25$$

اوس یوه پیسه پرلپسې اچول کیږي او ددې لپاره ونه دیاګرام کښل کیږي. احتمالوالی په همغه تار لیکل کیږي

لاس ته راوړنې:{ S = { ww ; wz ; zw ; zz پیداېښتي یا طبیعي ده، چې همغه دي لکه په لومړۍ تجربه کې د یوګونو احتمالوالی د تار په اوږدو احتمالوالي ضریب څخه لاس ته راځي: $P(ww) = 0,5 \cdot 0,5 = 0,25$ $P(wz) = P(zw) = P(zz) = 0,25$	

د داسې لاسته راوړنو یا هم ونو دیاګرام په مرسته کېدی شي د پام وړ احتمالوالی د ډیر پوړیز تصادفي ازمایښتونو په مرسته شوونی شي
بیلګه: د یوه مسلکې ښوونځې زده کوونکو شورا له درې نارینه ـ او دوه ښځینه زده کوونکو جوړه ده. پچه اچول کیږي، چې څوک په دې کال کې د شورا ریس او مرستیال کیدی شي. لومړی ریس او بیا مرستیال ټاکل کیږي، د پچې اچولو له لارې..

الف) د کوم احتمالوالي سره کیدی ښي چې یوه زده کوونکې ریسه او بله یې مرستیاله وټاکل شي؟

ب) د کوم احتمالوالي سره کېدی شي یوه زده کوونکې ریسه او زده کووونکی مرستیال وټاکل شي؟

پ) د کوم احتماوالي سره به یوه زده کوونکې مرستیاله وټاکل شي؟

دا یوه دوه پوړیزه تصادفي تجربه ده، چې د یوې لاترۍ په څیر رامنځ ته کیږي.

یه جام کې ۵ غونډاري دي، ۲ سره د ښځینه زده کوونکو لپاه دي او ۳ تور د نارینه زده کوونکو لپاره

له جام څخه یو په بل پسې دوه غونډاري راوستل کیږي(راوستنه بې له بیرته ایښوونې یا بیا وراچونې) .

دا حالت یو ونه ډیاګرام لیدوړ کوي.



یادونه : سور خال ښځینه زده کوونکې، تور خال نارینه زده کوونکې

الف) : یوه زده کوونکې رییسه ده، بله مرستیا له

$$P(A)=P(rr)=0{,}1$$

ب) : زده کوونکې رییسه ده او رده کوونکی مرستیال

$$P(B)=P(rs)=0{,}3$$

پ) زده کوونکې مرستیاله

$$\Rightarrow C=\{rr;sr\}$$

$$P(C)=P(rr)+P(sr)=0{,}1+0{,}3=0{,}4$$

په بیلګه کې احتمالوالی د تار قانون په مرسته و ښودل شو.

۱ . تارقاعده په یوه و نه دیاګرام کې د یوې پیښې احتمالوالی د اړونده تار اوږدوالي د احتمالوالي د ضرب سره برابر دی.

۲ . تارقاعده : په ونه دیاګرام کې د یو ې پیښې احتمالوالی ، په دې اړونده تار احتمالوالو زیاتون (جمعه) دی

<u>په یاد ولره:</u>

په ونه دیاګرام کې مو هر تار د یوې پیښې تصادف ازماېښت ته بیایي یا لاربښوده وي..
د داسې یوې پیښې احتمالوالی ددې تار په اوږدوالي پراته برخه احتمالوالو ځل دی

تارقاعده

کا د یوګونو تارونو احتمالوالی په یوه جدول کې سره راټول کړو، نو د احتمالوالي وېشنه په لاندې توګه لاس ته راځي

E	rr	rs	sr	ss
P(E)	0,1	0,3	0,3	0,3

دا کیدی شي د مټې یا ستن دیاګرام په توګه هم انځو رشي. د ا حتمالوالو زیاتون تل ۱ ورکوي

احتمالوالی P(E)



پیښنه E

کېنې لور ته ولاړ هم: احتمالوالی P(E) دی

بیلګه: په یوه مرتبان کې ۳ سره او ۲ زیړ عونډاري پراته دي یو په بل پسې ۲ غونډاري راوستل کیږي د بیرته وراچولو سره

الف) ونه دیاګرام او احتمالوالي وېشنه د جدولکوني دیاګرام په ځیر وکاږی

ب) د پیښې A لپاره احتمالوالی وشمیرئ: راوستلي غونډاري نابرابر رنګ,نه لري

پ) د پیښې B لپاره احتمالوالی وشمیرئ:کم له کمه یو راوستل شوی غونډاری زیړ دی

ځوابونه الف)



$$P(rr)=\frac{3}{5}\cdot\frac{3}{5}=\frac{9}{25}=0,36$$

$$P(rg)=\frac{3}{5}\cdot\frac{2}{5}=\frac{6}{25}=0,24$$

$$P(gr)=\frac{2}{5}\cdot\frac{3}{5}=\frac{6}{25}=0,24$$

$$P(gg)=\frac{2}{5}\cdot\frac{2}{5}=\frac{4}{25}=0,16$$

E	rr	rg	gr	gg
P(E)	0,36	0,24	0,24	0,16



په پورته کیڼ لور ځیره کې د الماني ویو (لغاتونو) مانا:

Wahrsheinlichkeitsverteilug د احتمالوالي وېشته، Wahrscheinlichkeit احتمالوالی، Ereignis پیښه

ب)

$$A=\{rg;gr\}\Rightarrow P(A)=P(rg)+P(gr)=\frac{6}{25}+\frac{6}{25}=\frac{12}{25}=0,48$$

پ)

$$B=\{rg;gr;gg\}\Rightarrow P(A)=P(rg)+P(gr)+P(gg)=\frac{6}{25}+\frac{6}{25}+\frac{4}{25}=\frac{16}{25}=0,64$$

بیلګه: په یوه کوټی کې ۳ سره او څلور زیړ غونداري اچول شوي. له دې څخه یو یو غونډاری راباسوو بې له بیرت اچونې..

الف)ونه دیاګرام   او   احتمالوالی وېشنه د جدول   او دیاګرام په څیر وکاږی.

ب) د پیښې A لپاره احتمالوالی وشمیرئ: دوم راوستلی غونډاری سور دی

پ) د پیښې B لپاره احتمالوالی وشمیرئ: دواړه غونډاري برابر رنګ لري



$$P(rr)=\frac{3}{7}\cdot\frac{1}{3}=\frac{1}{7}\approx 0,143$$

$$P(rg)=\frac{3}{7}\cdot\frac{2}{3}=\frac{2}{7}\approx 0,286$$

$$P(gr)=\frac{4}{7}\cdot\frac{1}{2}=\frac{2}{7}\approx 0,286$$

$$P(gg)=\frac{4}{7}\cdot\frac{1}{2}=\frac{2}{7}\approx 0,286$$

E	rr	rg	gr	gg
P(E)	$\frac{1}{7}\approx 0,143$	$\frac{2}{7}$	$\frac{2}{7}$	$\frac{2}{7}\approx 0,286$



ب)

$$A=\{rr;gr\}\Rightarrow P(A)=P(rr)+P(gr)=\frac{1}{7}+\frac{2}{7}=\frac{3}{7}\approx 0,429$$

پ)

$$B=\{rr;\ gg\}\Rightarrow P(A)=P(rr)+P(gg)=\frac{1}{7}+\frac{2}{7}=\frac{3}{7}\approx 0,429$$

یادونه : په راتلونکي کې به په دې هکله په زړه پورې پوښتنې او ځوابونه راوړل شي

پوښتنې

ډېر پوړیزې تصادفي ازماینې ا

لومړی - یوه پیسه دوه واره غورځول کیږي. ونه دیاګرام یې وکاږئ او د لاندې پیښنو لپاره احتمالوالی و ټاکی.

الف -

A: ټیک یو ځل ممبرنښان (په W سره یې ښایو)

ب -

B : لږ تر لږه یو ځل ممبر نښان

پ – C: زیات له زیاته یو ځل ممبر نښان

دویم –

یو ه پیسه درې واره غورځول کیږي. ونه دیاکرام وکاږئ او د لاندې پېښنو لپاره احتمالوالی وټاکی.

الف –

A : له دوه ځله زیات ممبر نښان

ب –

B : زیات له زیاته دوه واره ممبرنښان

پ –

C: لږ ترلږه یو ځل ګڼ یا عدد (په Z سره یې ښایو)

ت –

D : ټیک یو ځل ممبرنښان:

دریم –   یو مرتبان دوه2 سره 3 تور او5 زیړ غونډاري (غونډوسکې یا توپونه او یا باغکې(تشلې) او که غواړئ کرې) لري. پرلپسې دوه غونډاري له مرتبان څخه وېستل کیږي، د بیرته وراچولو سره .ونه دیاګرام و کاږئ، د لاندې پیښو لپاره د احتماوالی وېشنه او احتمالوالی و ټاکئ:

A : دوړاه غونډاری همغه یا یو رنګ لري.

B : لومړی غونډوسکه سره ده او دویمه توره

C: دویمه غونډوسکه سره ده یا توره

D : دC مخامخ یا برعکس پېښه کومه ده او دا د کوم احتمالوالي سره پېښیږي؟

څلورم –

یوه ازموینه له څلورو پوښتنو جوړه ده. د څلورو دې هرې پوښتنې ته درې ځوابونه ، چې له دې ټیک یو ځواب رښتیا دی ور کړ شوي دي. یو کس بې له چمتووالي ازموینې ته ځي او دا به په بخت چلیپا کوي.

احتمالوالی څومره لوي دی، چې دی په ازموینه کې بریالی شي، که لږ تر لږه باید درې پوښتنې رښتیا یا ټیک ځواب شوي وي.

پنځم –

پنځه ملګري له پولې اخوا ته مېلې ته ځي. د بیرته ستنېدو وخت کې باید د ګمرک څخه تیرشي. سره له دې چې دوی وایې هغوي د اجازې سره سم سګرټ له ځان سره لري، خو سره له دې هم سپین او نرنګ زیات سګرټ له ځانونو سره راوړي. د ګمرک مامور له دوي څخه دوه ټاکي، چې تالاشي یې کړي.

الف – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور قاچاق وړونکی نه شي بيدا کولی؟

ب – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور له دې دوه قاچقوړونکو څخه لږ تر لږه یو قاچاقوړونکی نیسي؟

شپږم –

د لیسې د ۱۲ -م ټولګي زده کوونکي دوه ټولګي جوړوي چې په ټولیزه توګه ۴۰ زده کوونکي لري. هر زده کوونکی د تیاتر لپاره یوه یوه وړیا کارته تر لاسه کوي. زده کوونکو ته د احتمالوالي پرینځیپ یا اساساتو پر بنسټ له ۱ څخه تر ۴۰ پورې چوکی تنظیمیږي. د کوم یو احتمالوالي سره په لومړیو شپږ ځایونو کې د یوه ټولګي زده کوونکي ځای نیسي؟ (لارښود: یو مناسب د مرتبان مودل و کاروئ).

اوم – یو د بخت څرخ د څلورو برابرو ټوټو(قطعو) سره ، چې شین، سور، سپین او اسماني رنګونه لر ي څرخول کیږي. یوه لوبه پای کیږي که دا څرخ ودریږي. له دې څلورو څخه یو رنګ د یوه غشي سره په نخښه یا په ګوته کیږي. د یوې لوبې لړۍ له درې لوبو جوړه ده.

څومره د لوبې پرلپسې باید لږ تر لږه وشي، چې د60% څخه زیات احتمالوالي سره لږ ترلږه یوه لوبه پرلپسې له درې ځله شنه سره لاس ته راوړو؟

ځوابونه

دېر پوړیزې تصادفي ازمایښې I

مفصل ځوابونه

لومړی – A : تیک یو ځل ممبر نښان

B : لږ تر لږه یو ځل ممبرنښان.

$$P(B) = P(\{WW; WZ; ZW\}) = P(\{WW\}) + P(\{WZ\}) + P(\{ZW\}) = 3 \cdot 0,25 = \underline{0,75}$$

یا برعکس پېښې $\overline{B}$:سره: هیڅ ځل ممبر نښان

$$P(B) = 1 - P(\overline{B}) = 1 - P(\{ZZ\}) = 1 - 0,25 = \underline{\underline{0,75}}$$

C : زيات له زياته يو ممبر نبنان .

$$P(C)=P(\{WZ;ZW;ZZ\})=P(\{WZ\})+P(\{ZW\})+P(\{ZZ\})=3\cdot 0,25=\underline{\underline{0,75}}$$

يا د متضاد پېښې $\overline{C}$ سره : دوه ځله ممبر نشان

$$P(C)=1-P(\overline{C})=1-P(\{WW\})=1-0,25=\underline{\underline{0,75}}$$

دويم -



$P(WWW)=0,5^3=0,125$
$P(WWZ)=0,5^3=0,125$
$P(WZW)=0,5^3=0,125$
$P(WZZ)=0,5^3=0,125$
$P(ZWW)=0,5^3=0,125$
$P(ZWZ)=0,5^3=0,125$
$P(ZZW)=0,5^3=0,125$
$P(ZZZ)=0,5^3=0,125$

A : له دوه څخه زيات ځله ممبر نشآن

$$P(A)=P(\{WWW\})=\frac{1}{8}=0,125$$

B : زيات له زياته دوه ځله ممبرنبنان په دې معنا چې هېڅ ځل ، يو ځل يا دوه ځله ممبر نبنان. د B برعکس پيبنه : درې ځله ممبرنبنان.

$$P(B)=1-P(\overline{B})=1-P(\{WWW\})=1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}=0,875$$

C : لږ تر لږه يو ځل عدد. لږ تر لږه يو ځل عدد په دې معنا دی، چې يو ځل، دوه ځله يا درز ځله عدد. د C برعکس پيبنه د اسې ه: هيڅ حل عدد، دا مکردرې ځله ممبر دی.

$$P(C)=1-P(\overline{C})=1-P(\{WWW\})=1-\frac{1}{8}=\frac{7}{8}=0,875$$

ت – D : تیک یو ځل ممبرنښان

$$P(D)=P(\{WZZ;ZWZ;ZZW\})$$
$$=P(\{WZZ\})+P(\{ZWZ\})+P(\{ZZW\})=3\cdot 0{,}125=0{,}375$$

دریم -



$$P(rr)=\frac{2}{10}\cdot\frac{2}{10}=\frac{4}{100}$$
$$P(rs)=\frac{2}{10}\cdot\frac{3}{10}=\frac{6}{100}$$
$$P(rg)=\frac{2}{10}\cdot\frac{5}{10}=\frac{10}{100}$$
$$P(sr)=\frac{3}{10}\cdot\frac{2}{10}=\frac{6}{100}$$
$$P(ss)=\frac{3}{10}\cdot\frac{3}{10}=\frac{9}{100}$$
$$P(sg)=\frac{3}{10}\cdot\frac{5}{10}=\frac{15}{100}$$
$$P(gr)=\frac{5}{10}\cdot\frac{2}{10}=\frac{10}{100}$$
$$P(gs)=\frac{5}{10}\cdot\frac{3}{10}=\frac{15}{100}$$
$$P(gg)=\frac{5}{10}\cdot\frac{5}{10}=\frac{25}{100}$$

e_i	rr	rs	rg	sr	ss	sg	gr	gs	gg
P	$\frac{4}{100}$	$\frac{6}{100}$	$\frac{10}{100}$	$\frac{6}{100}$	$\frac{9}{100}$	$\frac{15}{100}$	$\frac{10}{100}$	$\frac{15}{100}$	$\frac{25}{100}$

الف -

A : دواړه غونداري همغه رنګيز دي.

$$P(A)=P(\{rr\})+P(\{ss\})+P(\{gg\})=\frac{4}{100}+\frac{9}{100}+\frac{25}{100}=\frac{38}{100}=\underline{\underline{0{,}38}}$$

B : لومړی غونډاری سور دی، او دويم تور دی.

$$P(B)=P(\{rs\})=\frac{6}{100}=\underline{\underline{0,06}}$$

C : دويم غونډاری سور يا تور دی.

$$P(C)=P(\{rr\})+P(\{rs\})+P(\{sr\})+P(\{ss\})+P(\{gr\})+P(\{gs\})$$
$$=\frac{4}{100}+\frac{6}{100}+\frac{6}{100}+\frac{9}{100}+\frac{10}{100}+\frac{15}{100}=\frac{50}{100}=\underline{\underline{0,5}}$$

ت - دC برعکس پيښه څنګه ده او دا د کوم احتمالوالي سره رامنځ ته کيږي؟

$\overline{C}$: دويم غونډاری تور دی.

$$P(\overline{C})=1-P(C)=1-0,5=\underline{\underline{0,5}}$$

څلورم- دا څلورم پوړيزه تصادفي پيښه ده (څلور پوښتني) . د يوه ټيک ځواب لپاره احتمالوالی1/3 دی، او د ناټيک لپاره 2/3 .

په لاندې کې د الماني معنا: درې پوښتني ټيک دي

$$P(3\text{ Fragen richtig})=P(\{rrrr\})+P(\{rrrf\})+P(\{rrfr\})+P(\{rfrr\})+P(\{frrr\})$$

$$P(\{rrrr\})=\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}\cdot\frac{1}{3}=\left(\frac{1}{3}\right)^4$$

$$P(\{rrrf\})=P(\{rrfr\})=P(\{rfrr\})=P(\{frrr\})=\left(\frac{1}{3}\right)^3\cdot\frac{2}{3}$$

$$P(3\text{ Fragen richtig})=4\cdot\left(\frac{1}{3}\right)^3\cdot\frac{2}{3}+\left(\frac{1}{3}\right)^4=\frac{8}{3^4}+\frac{1}{3^4}=\frac{9}{3^4}=\underline{\underline{\frac{1}{9}\approx 0,11}}$$

پنځم -

مودل (Modell) : په يو ه مرتبان کې 3 شنه غونډاري (هيڅ - يا نه قا چاق وړونکی N) او 2 سره غونډاري(قاچاق وړونکی S). دوه واره غونډاری راوېستل کيږي بې له بيرته ور اچولو.



$$P(SS)=\frac{2}{5}\cdot\frac{1}{4}=\frac{2}{20}=\frac{1}{10}=0,1$$
$$P(SN)=\frac{2}{5}\cdot\frac{3}{4}=\frac{6}{20}=\frac{3}{10}=0,3$$
$$P(NS)=\frac{3}{5}\cdot\frac{1}{2}=\frac{3}{10}=0,3$$
$$P(NN)=\frac{3}{5}\cdot\frac{1}{2}=\frac{3}{10}=0,3$$

الف – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور لخوا قاچاقوړونکی نه نیول کیږي؟

P (NN) = 0,3.

ب – د کوم احتمالوالي سره د ګمرک مامور له دې دواړو قاچاقوړونکو لږ تر لږه یو رانیسي؟

P(S لږ تر لږه یو)= P(SS) + P(SN) + P(NS) = 0,1 + 0,3 + 0,3 = 0,7.

شپږم – د مرتبان مودل :

20سره غونډاري (ټولګی 1) او 20 شنه غونډاري (ټولګی 2) شپږ ځله را وباسی بې له بیرته ور اچولو.

P = P({rrrrrr})+P({gggggg})

احتمالوالی د دواړو ټولګیو لپاره برابردی P({rrrrrr})=P({gggggg})

$$P(\{rrrrrr\})=\frac{20\cdot19\cdot18\cdot17\cdot16\cdot15}{40\cdot39\cdot38\cdot37\cdot36\cdot35}$$

را وېستل بې له بیرته ور اچونې.

$$P=P(\{rrrrrr\})+P(\{gggggg\})=2\cdot\frac{20\cdot19\cdot18\cdot17\cdot16\cdot15}{40\cdot39\cdot38\cdot37\cdot36\cdot35}=\underline{\underline{0,02}}$$

اوم-

A : د n لوبو پرلپسې کې لږ ترلږه یوه لوبه پرلپسې درې ځله شنو سره

$P(\{g\}) = \frac{1}{4}$ په یوه لوبه یو ځل شین

$$\Rightarrow P(\{ggg\}) = \frac{1}{4} \cdot \frac{1}{4} \cdot \frac{1}{4} = \frac{1}{64}$$

د یوې لوبې پرلپسې سره درېواره شین د A برعکس یاپه ځتې پیښه ده:

$\overline{A}$: په n لوبو کې د لوبې پرلپسې د درېواره شنه سره نه شته

$P\left(\left\{\overline{ggg}\right\}\right) = 1 - P(\{ggg\}) = 1 - \frac{1}{64} = \frac{63}{64}$ په یوه لوبه پرلپسې کې درېواره شین نه شته

$$P\left(\overline{A}\right) = \left(\frac{63}{64}\right)^n \Rightarrow P(A) = 1 - P\left(\overline{A}\right) = 1 - \left(\frac{63}{64}\right)^n$$

$$P(A) > 0{,}6 \Leftrightarrow 1 - \left(\frac{63}{64}\right)^n > 0{,}6 \,|\, -1$$

$$\Leftrightarrow -\left(\frac{63}{64}\right)^n > -0{,}4 \,|\, : (-1)$$

$$\Leftrightarrow \left(\frac{63}{64}\right)^n < 0{,}4 \,|\, \ln$$

$$\Leftrightarrow n \cdot \underbrace{\ln\left(\frac{63}{64}\right)}_{<1} < \ln(0{,}4) \,|\, : \ln\left(\frac{63}{64}\right)$$

$$\Leftrightarrow n > \frac{\ln(0{,}4)}{\ln\left(\frac{63}{64}\right)} \approx \underline{\underline{58{,}18}}$$

باید لږ ترلږه 59 ځله لوبه وشي، چې کم له کمه یوه لوبې پرلپسې کې درې ځله شنه راووېستل شي.

پوښتنې

ډېر پوړيز تصادفي ازمايښتونه II
لومړی - په يوه لوښي کې 50 يو ډول غونډاري پراته دي، له دې څخه20 سره او 30 شنه دي. درې غونډاري راوېستل کيږي د بېرته وراچولو سره. دا پېښه کوم احتمالوالی لري؟

الف – A : ټول غونډاري شنه دي. . ب - B : يو غونډاری شين او دوه سره دي
پ - C : يو غونډاری سور او دوه شنه دي. .ت - D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی
.

دويم – - په يوه لوښي کې 50 يو ډول غونډاري پراته دي، له دې څخه20 سره او 30 شنه دي. درې غونډاري راوېستل کيږي بې د بېرته وراچولو سره. دا پېښه کوم احتمالوالی لري؟

الف - A : ټول غونډاري شنه دي ب - : يو غونډاری شين او دوه سره دي
پ - C : يو غونډاری سور او دوه شنه دي. ت - D : زيات له زياته يو غونډاری سور دی.

دريم – د خټينو لوښو توليد کې د تجربې له مخې 20% زيانمن لوښي لرو.
الف – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه ټيک درې د استعمال وړ وي؟
ب – – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه ټيک دوه د استعمال وړ وي؟
پ — څومره احتمالوالی شته چې له څلورو لوښو توليد څخه لږ ترلږه دوه د استعمال وړ وي؟
څلورم – د خټينو لوښو په يوه زخيره کې 100 تازه جوړ شوي لوښی شتون لري. سړی پوهيږي، چې له دې څخه 20% ناټيکاوي لري. څلور لوښي ترې توکلي رانيول کيږي يا راوېستل کيږي.

الف –
څومره احتمالوالی شته چې څلور واړه لوښي جوړ يا بې ناټيکاوي دی؟
ب – څومره احتمالوالی شته چې له څلورو را نيولو لوښو توليد څخه ټيک درې بې له ناټيکاوي يا جوړ دي.؟

پ – څومره احتمالوالی شته چې له څلور رانيول شوو لوښو لږ تر لږه درې بې غلطی ؟

پنځم – د تولید کنترول سره د یوه ټاکلي ناټیکاوی 10% سترګو ته نه راځي.
له دې امله دا تولید لهدرې مختلو کنترول کوونکو کنترولیږي. د دې لپاره احتمالوالی وټاکئ چې یو بې کاره تولید
الف – خورا ناوخته یا وروسته د 2-م کنترول سره بې کاره و پیژندل شي.
ب- په دریم کنترول سره بیکاره و پیژندل شي.
پ- د بې کاره په توګه ونه پیژندل شي.

شپږم – په یوه فابریکه کې ختین لوښي تولیدیږي. هر لوښی یو بل پسې په مختلفو کنترولونو کې د بڼې، رنګ او د باندنۍ سطحې جوړښت په بنسټ ازمایل کیږي.
د تجربې سره سم 25% بڼه د تولید ناټیکاوي له مخې کنترولیږي. د فابریک کنترول څخه 85% برخې بې له ناټیکاوي کنترول څخه تیریږي . په 20% کې ټولو حالتونو د بورته سطحې منترول د لومړي انتخاب غوښتني (انتظار) نه پوره کوي. فقط که ټول درې کنتر لونه بې د ناټیکاوي کنترول څخه تېر شوي وي، کېدی شي د لومړي انتخاب به حیث یوه برخه و پرول شي. یوه برخه د دویم انتخاب په خیث، که هڅرنګوالی فقط په یوه کنترول کې بسیا ونه کړي. نور ټول پاتې لوښي زیانمن (د غورځولو) تولید دی.
الف – ټول در بواره کنترول په ونه دیاګرام کې انځور کړئ
ب – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه لومړی انتخاب وي؟.
پ – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه دویم انتخاب وي؟
ت – څومره احتمالوالی شته چې یوه برخه زیانمنه وي؟
اوم – په یوه لاتري A کې د 10000 لاتریو پانو لپاره 4500 ګټونکي شته ، په لاتري B کې د15000 لاتریو لاندې 9500 ګټونکي شتون لري. یو کس د هرې لاتري څخه یوه اخلي .
الف – اختمالوالی څومره لوی دی، چې په همغه وخت کې دواړه رانیول شوې لاترې وګټي؟
E_1 : په دواړو لاتریو کې ګټنه.

ب- احتمالوالی څومره لوي دی، چې لاتري ونه کټي؟
E_2 : چې هیڅ لاتري نه کټي؟
پ – احتمالوالی څومره لوي دی،چې لږترلږه پهیوه لاتري کې وګټي؟
E_3 : وړل په لږترلږه یوه لاتري کې.
.

ځوابونه

دپر پوړیزې تصادفی تجربې II

مفصل ځوابونه

لومړی –

$$P(\{rrr\}) = \left(\frac{2}{5}\right)^3 = 0{,}064$$

$$P(\{rrb\}) = P(\{rbr\}) = P(\{brr\}) = \left(\frac{2}{5}\right)^2 \cdot \frac{3}{5} = 0{,}096$$

$$P(\{rbb\}) = P(\{brb\}) = P(\{bbr\}) = \frac{2}{5} \cdot \left(\frac{3}{5}\right)^2 = 0{,}144$$

$$P(\{bbb\}) = \left(\frac{3}{5}\right)^3 = 0{,}216$$



الف -

A : ټول غونډاري شنه دي.

$$P(A) = P(\{bbb\}) = \underline{\underline{0{,}216}}$$

ب -

B: یو غونډاری شین او دوه سره دي.

$$P(B) = P(\{rrb\}) + P(\{rbr\}) + P(\{brr\}) = 3 \cdot 0{,}196 = \underline{\underline{0{,}288}}$$

پ –

C : یو غونډاری سور ، دوه شنه دي.

$$P(C) = P(\{rbb\}) + P(\{brb\}) + P(\{bbr\}) = 3 \cdot 0{,}144 = \underline{\underline{0{,}432}}$$

ت –

D : زیات له زیاته یو غونډاری سور دی. دا په دې معنا چې هیڅ یا یو غونډاری.

$$P(D) = P(\{bbb\}) + P(\{bbr\}) + P(\{brb\}) + P(\{rbb\}) = 0{,}216 + 3 \cdot 0{,}144 = \underline{\underline{0{,}648}}$$

دویم –

$$P(\{rrr\}) = \frac{20}{50}\cdot\frac{19}{49}\cdot\frac{18}{48}$$

$$P(\{rrb\}) = \frac{20}{50}\cdot\frac{19}{49}\cdot\frac{30}{48} = C$$

$$P(\{rbr\}) = \frac{20}{50}\cdot\frac{30}{49}\cdot\frac{19}{48} = \frac{30\cdot 20\cdot 19}{50\cdot 49\cdot 48}$$

$$P(\{rbb\}) = \frac{20}{50}\cdot\frac{30}{49}\cdot\frac{29}{48} = \frac{30\cdot 29\cdot 20}{50\cdot 49\cdot 48}$$

$$P(\{brr\}) = \frac{30}{50}\cdot\frac{20}{49}\cdot\frac{19}{48} = \frac{30\cdot 20\cdot 19}{50\cdot 49\cdot 48}$$

$$P(\{brb\}) = \frac{30}{50}\cdot\frac{20}{49}\cdot\frac{29}{48} = \frac{30\cdot 29\cdot 20}{50\cdot 49\cdot 48}$$

$$P(\{bbr\}) = \frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{20}{48} = \frac{30\cdot 29\cdot 20}{50\cdot 49\cdot 48}$$

$$P(\{bbb\}) = \frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48}$$



الف -

A : تول غونډاري شنه دي.

$$P(A) = P(\{bbb\}) = \frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48} \approx \underline{\underline{0,207}}$$

ب –

B : يو غونډارى شين او دوه سره دي..

$$P(B) = P(\{rrb\}) + P(\{rbr\}) + P(\{brr\}) = 3\cdot\frac{30\cdot 20\cdot 19}{50\cdot 49\cdot 48} \approx \underline{\underline{0,291}}$$

پ –

C : يو غونډارى سور دى، دوه شنه دي..

$$P(C) = P(\{rbb\}) + P(\{brb\}) + P(\{bbr\}) = 3\cdot\frac{30\cdot 29\cdot 20}{50\cdot 49\cdot 48} \approx \underline{\underline{0,444}}$$

ت –

D : زيات له زياته يو غونډارى سور دى. دا په دي معنا چي هيڅ يا فقط يو.

$$P(D) = P(\{bbb\}) + P(\{bbr\}) + P(\{brb\}) + P(\{rbb\})$$

$$= \frac{30}{50}\cdot\frac{29}{49}\cdot\frac{28}{48} + 3\cdot\frac{30\cdot 29\cdot 20}{50\cdot 49\cdot 48} \approx \underline{\underline{0,651}}$$

دریم –
مودل : مرتبان له یوه سره(ناتیک تولید سره) او څلور شنه (بې له ناتیکاوي یعنې تول سم) غونډارو سره. څلور واره وېستنه له بیرته ایښوونې یا بیرته ور اچونې سره.



الف –
A : درې له څلورو د کاروړ دي. دا ونه دیاګرام څلور تارونه لري، چې دA پېښې لپاره باوري relevant یا significant دي.

$$P(A) = 4 \cdot \frac{1}{5} \cdot \left(\frac{4}{5}\right)^3 = 4 \cdot \frac{64}{625} = \underline{\underline{0{,}4096}}$$

ب –
: له څلورودوه د کاروړ دي. دا ونه دیاګرام 6 تارونه لري، چې دB پېښې لپاره باوري یا د پوښتنې دي یعنې پوښتنه کې راځي.

$$P(B)=6\cdot\left(\frac{1}{5}\right)^2\cdot\left(\frac{4}{5}\right)^2=6\cdot\frac{16}{625}=\underline{\underline{0,1536}}$$

پ –

C : لږ تر لږه درې له څلورو د کار وړ دي. داپه دې معنا چې درې یا زیات د کاروړ دي.

$$P(C)=P(A)+\left(\frac{4}{5}\right)^4=4\cdot\frac{1}{5}\cdot\left(\frac{4}{5}\right)^3+\left(\frac{4}{5}\right)^4=4\cdot\frac{64}{625}+\frac{256}{625}=\underline{\underline{0,8192}}$$

څلورم –

مودل Modell : مرتبان له 20 سرو سره (د زیان سره) او 80 شنه (بې زیانه) غونډاري څلورواره وېستل بې له بېرته اېښوونې یا بیرته ور اچونې سره. د لسمي پوښتنې دیاګرام کیدی شي وکارول شي. مګر سره له دې دې هم په پام کې وي، چې د تارونو احتمالوالی تغیر خوري.

الف –

A : ټول څلور لوښي بې زیانه دي. دا ونه دیاګران یو تارلري، چې د هغې لپاره پیښنه A رامنځ ته کیږي یا پیښیږي.

$$P(A)=\frac{80}{100}\cdot\frac{79}{99}\cdot\frac{78}{98}\cdot\frac{77}{97}\approx\underline{\underline{0,4033}}$$

ب –

B : دد رانیولو څلور لوښو څخه درې بې زیانه دي. دا ونه دیاګرام څلور تارونه لري، چې د پیښې B لپاره رلېوانت یا د باوروړ دي.

$$P(B)=4\cdot\frac{20\cdot78\cdot79\cdot80}{97\cdot98\cdot99\cdot100}\approx\underline{\underline{0,4191}}$$

پ – یا زیات

C : لږتر لږه درې له دې څلور رانیولشوو لوښو بې زیانه دي. دا په دې معنا چې درې یا زیات بې زیانه دي.

$$P(C)=P(A)+P(B)=\frac{80}{100}\cdot\frac{79}{99}\cdot\frac{78}{98}\cdot\frac{77}{97}+4\cdot\frac{20\cdot78\cdot79\cdot80}{97\cdot98\cdot99\cdot100}\approx\underline{\underline{0,8224}}$$

پنځم -

مودلModell : مرتبان يا جام د1سره (
زيانمن) او 9 شنه (بې زيانه) غونډارو سره .
درې واره وېستنه د بيرته ور اچونې سره .

د ليل د بيرته وراچونې لپاره :
کنترول يو له بل خپلواک پيښيږي. وتون
حالت د هر ځل وېستنې لپاره تل بيرته همغه يا
برابر دی.(د زيان نه ليدنه 10%)
مخامخ د الماني پښتو له پورته وکښته لور ته:
۱. کنترول،۲.کنترول، ۳.کنترول،شين:زيان
کشف کيږي، سور:زيان نه کشفکيږي.



الف –

A : د دويم کنترول سره خورا وروسته پيژندل شوې ، په دې معنا چې زيان په لومړي او يا دويم کنترول کې پيژندل کيږي.

د لومړي کنترول سره پيژندل شوي: $P(1.) = \frac{9}{10} = 0{,}9$

د دويم کنترول سره پيژندل شوي: $P(2.) = \frac{1}{10} \cdot \frac{9}{10} = \frac{9}{100} = 0{,}09$

$$P(A) = \frac{9}{10} + \frac{9}{100} = \underline{\underline{0{,}99}}$$

ب –

B : په لومړي ځل په دريم کنترول کې پيژندل کيږي.

$$P(B) = \frac{1}{10} \cdot \frac{1}{10} \cdot \frac{9}{10} = \frac{9}{1000} = \underline{\underline{0{,}009}}$$

پ –

C : نه پيژندل کيږي..

$$P(C) = \frac{1}{10} \cdot \frac{1}{10} \cdot \frac{1}{10} = \frac{1}{1000} = \underline{\underline{0{,}001}}$$

شيرم –

الف – د لاندې پيښتو: له کيڼ کښته لور ته: بنه، رنګ، پورته سطحه، کنترول کې برياليې، کنترول کې نابرياليې. له ښي کښته لور ته:۱.انتخاب، ۲ .انتخاب،۲ . انتخاب،زيانمن (يعنې د غوځولو)۲.انتخاب، زيانمن، زيانمن،زيانمن.

لومړی انتخاب:

$0,75 \cdot 0,85 \cdot 0,8 = \underline{\underline{0,51}}$

دویم انتخاب :

$0,75 \cdot 0,85 \cdot 0,2 = 0,1275$

$0,75 \cdot 0,15 \cdot 0,8 = 0,09$

$0,25 \cdot 0,85 \cdot 0,8 = 0,17$

زیانمن:

$0,75 \cdot 0,15 \cdot 0,2 = 0,0225$

$0,25 \cdot 0,85 \cdot 0,2 = 0,0425$

$0,25 \cdot 0,15 \cdot 0,8 = 0,03$

$0,25 \cdot 0,15 \cdot 0,2 = 0,0075$



ب - $P(2.\text{Wahl}) = 0,1275 + 0,09 + 0,17 = \underline{\underline{0,3875}}$

پ- $P(1.\text{Wahl}) = \underline{\underline{0,51}}$

ت -

$P(\text{Ausschuss}) = 0,0225 + 0,0425 + 0,03 + 0,0075 = \underline{\underline{0,1025}}$

اوم –

الف -

$P(A) = \frac{4500}{10000} \qquad P(B) = \frac{9500}{15000}$

XX $P(E_1) = P(A \cap B) = P(A) \cdot P(B) = \frac{4500}{10000} \cdot \frac{9500}{15000} = \underline{\underline{0,285}}$

ب – ګټه مخ ته نه لرو، که په لاټري A او لاټري B کې ونه ګټل شي.

دلته باورور لري: $\bar{A}$ په لاټري A کې بایلنه $\bar{B}$ په لاټري B کې بایلنه

$P(E_2) = P(\bar{A} \cap \bar{B}) = \frac{5500}{10000} \cdot \frac{5500}{15000} = \underline{\underline{0,202}}$

پ - E_3 د E_2 په څټ – یا برعکس پیښه

$P(E_3) = 1 - P(E_2) = 1 - 0,202 = \underline{\underline{0,798}}$

شپږ م – په احتمالوالي شميرنه کې د مرتبان مودل

د مرتبان مودل

ډېرې تصادفي تجربې کيدی شي، ديوه لوښي څخه د مختلفو غونډاروراوستلو له لارې، چې مر تبان يا کټوری يې بولو مودل يې جوړې شي. په يوه کټوري کې n غونډاري پراته دي، چې له هغې څخه k راوستل کيږي.

راوستنه کيدی شي په دوه مختلفو ډولونو صورت ونيسي:

اول - يو غونډاری راوستل کيږي اوبيرته ور اچولکيږي.

داد مرتبان مودل(ډول) بلل کيږي د بيرته وراچونې سره.

دويم – له راوستنې وروسته غونډاری بيرته نه وراچول کيږي.

دا د متربان مودل(ډول) بلل کيږي نه د بېرته وراچونې سره

ډېرې تصادفی تجربې کېدی شي د مرتبان ډول باندې بېرته واړول شي. دا تصادفي پېښه په بام کې نيسو،، درې واره د پيسې غورځونه،، ، د دې په ځای کېدی شي د مرتبان څخه چې دوه مختلف غونډاري په کې پراته دي درې واره يو يو غونډاری راووستل شي، د بيرته وراچونې سره.

د مرتبان مودلونې (د روستنې ډول) سره تصادفي ازماېښت

يو څو بيلګې دې د متبان مودلګټې په ګوته کړي.

تصادفي تجربه	Urnenmodell د مرتبان مودل
د يوه سترګي (مکعب) د دوه واره غورځولو سر، چې شپږ را ووځي احتمالوالی څومره لوي دی؟	مرتبان له شپږو غونډارو سره له 1 تر 6 په ګڼه (نمره) شوي. دوه واره راوستنه د بېرته وراچونې سره. پلټونکی احتمالوالی:

	$P(6 \mid 6) = \frac{1}{6} \cdot \frac{1}{6} = \frac{1}{36} \approx 0{,}028$
دیوه ټولګي د 25 زده کوونکو څخه 10 زده کونکو د کور کار نه دی کړی. یو ښوونکی توکلي یو زده کوونکی کنترولوي. د کوم احتمالوالي سره هغه زدهک وونکی په لاس ورځي، چې کورنی کار يې نه دی کړی؟	مرتبان له 25 غونډارو سره. 15 سپین او10 تور . پلټونکی احتمالوالی: $P(s) = \frac{10}{25} = \frac{2}{5} = 0{,}4$
د لیسې په یوه ټولګي کې ۱۲۰ 120 زده کوونکي (نارینه اوښځینه) دالی شتون لري (د تعلیم او تربیې له څانګې) 15% نارینه دي. د یوې مسا بقې لپاره دوه زده کوونکي(ن ، ښ) راوېستل کیږي(د دوه وو لپاره پچه اچول کیږي). څومره احتمالوالی لري چې دا دوه زده کوونکي نارینه وي؟	مرتبان له 120 غونډارو سره. 102 سپین غونډاري(دښځینه وو لپاره او18 تور غونډاري (د نارینه ووو لپاره). دوه واره راوستنه د نه بېرته وراچونې سره. پلټونکی یا غوښتونکی احتمالوالی. $P(s \mid s) = \frac{18}{120} \cdot \frac{17}{119}$ $= \frac{306}{14280} = \frac{51}{2380} \approx 0{,}021$
یو د احسایي انسیتوت غواړي پیدا کړي، چې د ټولو زیږېدنو څخه 53% نارینه کوچنیان دي. احتمالوالی څومره لوی دی، که یوه مور په پر	مرتبان له 100 غونډاروسره. 53 شنه (د هلکانو لپاره) او 47 ګلابي (د نجونو لباره). دوه واره راوستنه د بیرته وراچونې سره. غوښتونکی احتمالوالی:

$P(b\mid b)=\frac{53}{100}\cdot\frac{53}{100}$ $=\frac{2809}{10000}\approx 0,2809$	بل پسې دوه هلکان دنيا ته راوړي؟

ممکن ترلې روښانه نه وي، چې ولې تصاذفي تجربه د دوه واره روستنې له لارې د بيرته وراچونې له لارې سميولې (د سيستم تحليل تيوريتيکې يا د فرمولونو له لارې پيچلې وي) کېدی شي.

دا کيدی شي داسې په بام کې راولې، چې موراني تل د درې برابر احتمالوالي وېشنې سره کچنيان نړی ته راوړی شي. دا په دز معنا چې له زېږېدنې وروسته بېرته همغه وتون حالت حاکم دی. دا د غونډاروبيرته ور اچونې سره سمولې (دا په دې معنا چې د کوچنيانوپه ځای له غونډارو کار اخستل کيږي) کيدی شي.

يو بيخي بل ډول سيمولاېشن حاکم کيږي، که د بيلګې په توګه 100 نوي زېږېدلو کوچنيانو څخه مخ ته لاړ شو چې له هغو53% هلکان دي. تصادفي يا توکلي دوه کوچنيان ټاکو، نو د دې لپاره

احتمالوالی، چې سرې ټيک دوه هلکان ټاکلي ،دی:

$$P(j\mid j)=\frac{53}{100}\cdot\frac{52}{99}=\frac{53\cdot 13}{25\cdot 99}\approx 0,2784$$

دا به راوستنه وي، بې له بېرته وراچونې.

د ختينو لوښو څخه له دې مخ ته ځو چې 20% زيانمن يا ناسم توليديږي.

څومره احتمالوالی شته چې له درې لوښو څخه ټيک دوه د کار وړ وي؟

يادونه : په لاندې کېg د شنه لپاره او r د سره لپاره ځای په ځای شوي دي.

مودل: کټوری له 8 شنه غونډارو سره (د کاروړ) او2 سرو غونډارو سره (زيان من).
درې وراه وېستنه له بيرته وراچونې سره:

پيښه A - له دريو څخه دوه لوښي د کا وړ دي.

د ونې دياګرام په مرسته نتيجه ډېری لاس ته راځي

د راوستنې نتيجه ډېرۍ ده : , S={ggg,ggr,grg; rgg,rrg;rgr;grr;rrr}

د پېښې ډېرۍ ده: A={ggr;grg;rgg}

$$P(g) = \frac{8}{10} = 0,8 \qquad P(r) = \frac{2}{10} = 0,2$$

$$P(gg) = 0,8 \cdot 0,8 \qquad P(ggr) = 0,8 \cdot 0,8 \cdot 0,2$$

$$\begin{aligned} P(A) &= P(ggr) + P(grg) + P(rgg) \\ &= 0,8^2 \cdot 0,2 + 0,8 \cdot 0,2 \cdot 0,8 + 0,2 \cdot 0,8^2 = 3 \cdot 0,8^2 \cdot 0,2 = \underline{\underline{0,384}} \end{aligned}$$

له څلورو کسانو، انګوره ,(A) ، بهير ,(B) ، کابلۍ ,(C)، داغي (D) څخه دوه د لوښو منځلو لپاره توکلي راووتل يا وټاکل شول، چې يو اوبه پرې تېروي يعنې يو يې غړوي او بل يې وچوي. د کوم احتمالوالي سره لومړۍ کابلۍ او پسې بهير راوځي؟

مودل :

کتورۍ له څلورو غونډارو سره چې په ليکلي وي. A, B, C او D .

دوه واره راوستنه له بيرته وراچونې سره.
دلته د رواوستلو غونډارو د راوستنې لړۍ په پام کې نيول کيږي. د الف پيښه داسې ده:
لومړۍ کابلۍ بيا بهير.

نتيجه ډېرۍ(سټ) د تورو A, B, C او D له ټولو دوه يزو کمبينيشنونو حوړه ده ، يعنې له

$$S = \{AB; AC; AD; BA; BC; BD; CA; CB; CD; DA; DB; DC\}$$
$$A = \{CB\} \Rightarrow P(A) = P(CB) = \frac{1}{4} \cdot \frac{1}{3} = \frac{1}{12} = 0,08\overline{3}$$

په موټرشميرلو کې کره شول، چې 65% د تېرېدونکو موټرو شخصي موټر يعنې واړه موټرPkw او30% باروړونکي موټرLkw او5% نور خوزنده الات دي.
احتمالوالی څومره لوی دی، چې لومړی کوچنی موټرPkw پسې لاریLkw اوپسې دا بل خوزنده اله ده؟

مودل :

کتوری له غونډارو سره ،65 سره ګړندی (Pkw)، 30 تور لارئ (Lkw) او 5 سپین (نور څغلنده ماشینونه). د

دریواره وستنه د بیرته ور اچونې سره.

غوښتونی احتمالوالی : $P(rsw) = \frac{65}{100} \cdot \frac{30}{100} \cdot \frac{5}{100} = 0,00975$

یو لوبه کوونکی(لوبغاړی) جوارګر به یې څکه نه بولو، چې په پیسو داسې لوبې حرامې دي)) د دې لپاره علاقه لري، چې سترګی لږ تر لږه څومره وغورځوي، چې د لږ تر لږه د 90% یوه احتمالوالي سره لږ ترلږه یو ځل 6 وغورځوي.

مودل :

کتوری له سرو غونډارو(بې له 6) او 1 شین غونډاری (شپږ غورځولی) n – ځله راوستنه د بیرته وراچونې سره. عددn ناڅرګند دی.

موږ پوهیږو، چې د د فکر برابر سره غونډاري غورځولو سره د6 راوتنې احتمالوالی 1/6 دی. احتمالوالی، چې 6شپږ ونه غورځول شي 5/6 دی. موږ د دې لپاره پیښې تعریفوو:

پیښه الف : یو شپږ غورځول، پیښه ب : شپږ نه غورځول کیږي (برعکس یا مخامخ پیښه).

د غورځونو سره احتمالوالی دی:

–ِ په هر ه ه غورځونه کې چې یو 6 غورځولشي:

$$\underbrace{\frac{1}{6} \cdot \frac{1}{6} \cdot \ldots\ldots \cdot \frac{1}{6}}_{n\ mal} = \left(\frac{1}{6}\right)^n$$

- په هره غورځونه کې چې 6 ونه غور ځول شي:

$$\underbrace{\frac{5}{6} \cdot \frac{5}{6} \cdot \ldots\ldots \cdot \frac{5}{6}}_{n\ mal} = \left(\frac{5}{6}\right)^n$$

برعکس د ،، په n –غورځولو کې، چې په هره غورځونه کې ونه غورځول شي،، په دې ډول ده چې ،، په n –غورځونو کې ټولټال يو 6 وغورځول شي،، بلکه ،، په n – غورځونو کې ټولوټال لږ تر لږه يو 6 وغورځول شي،،. موږ اوس دا پېښه E تعريفوو: په n –غورځونو کې ټولټال (په ټوليزه توګه) لږ تر لږه يو 6 غورځوي.

برعکس يې $\overline{E}$ دی: په n –غورځونو کې په ټوليزه توګه 6 نه غورځول کيږي.

د $\overline{E}$ احامالوالی همدا اوس پېژنو : $P(\overline{E})=\left(\frac{5}{6}\right)^n$

له دې سره د E احتمالوالی دی: $P(E)=1-P(\overline{E})=1-\left(\frac{5}{6}\right)^n$

په پوښتنه کونه کې غوښتل شوي ووچې $P(E)\geq 0{,}90$ بايد وي.

$1-\left(\frac{5}{6}\right)^n\geq 0{,}90$ د n عدد غوښتل کيږي(د غورځولو تعداد)

حل يې د بڼه بدلو او لوګاريم نيونې له لارې .

$$1-\left(\frac{5}{6}\right)^n\geq 0{,}90\,|-1$$

$$\Leftrightarrow -\left(\frac{5}{6}\right)^n\geq -0{,}1\,|\cdot(-1)$$

$$\Leftrightarrow \left(\frac{5}{6}\right)^n\leq 0{,}1\,|\ln$$

$$\Leftrightarrow n\cdot\ln\left(\frac{5}{6}\right)\leq \ln(0{,}1)\,|:\ln\left(\frac{5}{6}\right)\approx -0{,}18<0\Rightarrow$$

اړيکي $\leq$ په ځت کړی يا وګرځوی

$$\Leftrightarrow n\geq \frac{\ln(0{,}1)}{\ln\left(\frac{5}{6}\right)}\approx 12{,}629$$

سړی باید سترکی لږ تر لږه 13 – ځله و غورځوي چې د لږ تر لږه 90% اطمنان سره لږ ترلږه 6 لاس ته راوړي. بل ډول يې افاده (ويېنه): زه اجازه لرم چې ز يات له زياته د 100 څخه په 10 حالتونو کې په 12 –ځله غورځونه کې 6 لاس ته را نه وړم يا ونه غورځوم.

اوم - د تړلو پيښنو سره احتمالوالی

تړلې پيښې (چې په يوه عمليه کې سره راغلې وي)
تر اوسه يو ګونې پيښې تر پام نيول شوې وې. پيښې سره تړل کيږي هم.
پوښتنه: په يوه مسلکي ښوونځي کې100 زده کوونکي نارينه اوښځينه دي، چې له دوي څخه 87 هسپانوي ژبه (S) او 75 فرانسوي ژبه (F) زده کړې ، 70 په دواړو ژبو باندې واک لري (دلته يا په دې معنا چې فرانسوي، اسپانوي ياد واړه)

ب - يو زده کوونکی نارينه يا ښځينه توکلي و ټاکل شو.

احتمالوالی وشميری، چې هغه / هغې هسپانوي يا فرانسوي زده کړې.

(دلته يا په دې معنا چې هسپانوي، فرانسوي يا دواړه)

ځواب :

الف – همداسې په ساده ډول نه سي کيدی چې د سپانوي او فرانسوي لپاره عددونه سره جمعه کړي، ځکه چې بيا به د زده کوونکو په يوه تعداد 162 = 75 + 87 راغلي وی.

دا له دې امله ناټيک دی، ځکه چې هغه نارينه اوښځينه زده کوونکي چې سپانوي اوفرانسوي يې زده کړي دوه واره ګڼل (شميرل) کيږي.

75 زده کوونکي (نارينه \ ښځينه) د فرانسوي له دوي څخه 70د اسپانوي سره، پس 5 فقط له فرانسوي سره.	87 زده کوونکي (نارينه اوښځينه) د اسپانوي سره له دې څخه 70 د سپانوي او فرانسوي سره، پس فقط17 له سپانوي سره.

ټول نارينه او ښځينه زده کوونکي

له دوارو ژبو څخه کومه نه



فقط فرانسوي   فرا نسوی او سپانوي   فقط سپانوي

دا 70 نارينه او ښځينه زده کوونکي د اسپانوي او فرانسوی ژبو سره په 87 سپانوي ژبو او هم په75 فرانسوي ژبو کې خوندي دي. که د نارينه او ښځينه زده کوونکو د (87) سپانوي تعداد د نارينه اوښځينه (75) فرانسوي تعداد سره جمعه يا زيات کړو، نو د اسپانوي او فرانسوي ژبو نارينه اوښځينه زده کوونکو تعداد دوه واره وګڼل يا وشميرل شو. نو له دي امله بايد 70 له زياتون يا جمعي (162) څخه کم يا تفريق شي.

د ښځينه او نارينه زده کونکو تعداد د سپانوي يا فرانسوي سره:

$$87 + 75 - 70 = 92 \text{ bzw. } 17 + 70 + 5 = 92$$

دا په دي معنا چي، 8نارينه او ښځينه زده کوونکي په ليسه کي له دي دوه ژبو څخه کومه نه زده کوي(Spracherfüller in Sek I) .

ب – لومړی په لاندې توګه پيښي تعريفوو:

F: زده کوونکي فرانسوي لرووده   S: زده کوونکو سپانوي درلوده

احتمالوالی:
$$P(S\,\text{oder}\,F) = \frac{87+75-70}{100} = 0{,}92$$

د ترم بڼه بدلون سره:

$$P(S\,\text{oder}\,F) = \underbrace{\frac{87}{100}}_{P(S)} + \underbrace{\frac{75}{100}}_{P(F)} - \underbrace{\frac{70}{100}}_{P(S\,\text{und}\,F)} = 0{,}87 + 0{,}75 - 0{,}70 = 0{,}92$$

د odr يا او د und په معنا.

له دې بيلګې څخه د جمعې يا زياتون قانون پېژندل کيږي.

د جمعې يا زياتون قانون:

که يوه پيښه E د پېښو A او B څخه رايوځای شي، چې دا سره غوځولای هم شي، دا په دې معنا چې ګډې پيښې خوندي لرودی شي لکه په يوه يا- ترنه کې، نو بايد داپه پامکې ونيل شي، چې دا ګډې پيښې نه دوه ځله په پام راوړل شي.

A او B پېښې دي او باور لري $E = A \cup B$ (د يا – پيښه)

نو د پيښې لپاره احتمالوالی دی

$$P(E) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B)$$

په لغاتو کې :

د يوه يا-پيښې احتمالوالی د دواړو پيښو د احتمالوالي جمعه ده، د او –پيښې په کمښت يا تفريق سره.

بيلګه:

يوه دانه (سترګيز مکعب) دوه واره غورځول کيږي. دوه پيښې کره کيږي يا منځ ته ارځي:

A : د سترګيو عدد يا ګڼ له 3 لوی دی.

B : د سترګيو عدد يو جوړه عدد يا ګڼ دی.

يوه نوې پيښه په لاندې ډول پيښيږي:

C : د سترګيو عدد له 3 لوی يا د سترګيو عدد يو جوړه عدد دی.

پيښه C د A او B يوه د يا - ترنه ده. د $P(C)$ احتمالوالی و شميرئ.

لومړی دA اوB پيښه- ډېرئ يا - – سټ جوړوو:

$A=\{4,5,6\}$; $B = \{2,4,6\}$

د جمعې يا زياتون قاعدې له امله

$$P(C) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B)$$

شميرل کيږي.

د دې لپاره د نتيجه ډېرئ ته اړکيږو

$A \cap B$. $A \cap B = \{4;6\}$

د ځانګړو پیښو احتمالوالي دي:

$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(A\cap B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}$$

له دې سره د C احتمالوالی لرو:

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{2}+\frac{1}{2}-\frac{1}{3}=1-\frac{1}{3}=\frac{3}{3}-\frac{1}{3}=\underline{\underline{\frac{2}{3}}}$$

د نتیجو ټیکاوی ساده ازمیل کېدی شي، داسې چې د $C = A\cup B$ ۱ نتیجه دېری جوړه شي اود هغي احتمالوالی و ټاکل شي.

$$C=A\cup B=\{2;4;5;6\}\Rightarrow P(C)=P(A\cup B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{4}{6}=\underline{\underline{\frac{2}{3}}}$$

تمرین:

یوه دانه (سترګیز مکعب) دوه واره غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي منځ ته ارځي:

A : د سترګیو عدد یا ګڼ له 3 لوی دی.

B : د سترګیو عدد یو جوړه عدد یا ګڼ دی.

یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:

C : د سترګیو عدد له 3 لوی یا د سترګیو عدد یو جوړه عدد دی.

پیښه C د A اوB یوه د یا - تړنه ده. د P (C) احتمالوالی و شمیرئ.

بیلګه :

یوه دانه (سترګیز مکعب) یو وار غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي یا منځ ته ارځي:

A : د سترګیو عدد یا ګڼ له4 کوچنی دی.

B : د سترګیو عدد 4 یا 5 دی.

یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:

C : د سترګیو عدد له 4 کوچنی یا د سترګیو عدد 4 دی.

پیښه C د A اوB یوه د یا - تړنه ده.

د P (C) احتمالوالی و شمیرئ.

لومړی د A او B نتیجه- دېری جوړوو.

A = {1,2,3} ; B={4,5}

د زياتون قاعدې له مخې

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$$

شميرل کيږي.

د دې لپاره د $A\cap B$. نتيجه ډېری $A\cap B=\{\ \}=\varnothing$ ته اړ يو.

د يوګونو پيښنو احتمالوالی دی:

$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\frac{1}{2}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(A\cap B)=P(\varnothing)=($$

له دې سره به د احتمالوالی وي:

$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{2}+\frac{1}{3}-0=\frac{3}{6}+\frac{2}{6}=\underline{\frac{5}{6}}$$

ياودنه:

که $A\cap B=\{\ \}=\varnothing$ t نو باور لري $P(A\cup B)=P(A)+P(B)$.:

تمرين:

له لوب کارتو څخه چې 32 کارتې دي يو ه کارته راباسو(Skat).

دا لاندې پيښنه کوم احتمالوالی لري؟

E : راوېستلې کارتې د ځېرې کارتې ده يا د پشې Kreuzkarte کارتې.

دا تراوسه پيژندل شوې د احتمالوالي شمېرنې قوانينو ټولګه:
S دې د تصادفي تجربې نتيجه ډېرۍ وي.
اول : د ټولو پېښنو E لپاره باور لري:

$0\le P(E)\le 1$، چې $P(\varnothing)=0$ او $P(S)=1$ دي.
دا په دې معنا ، چې د يو ي منځ ته راتګ احتمالوالى تل د 0 او 1 ترمنځ پروت دى او کميز يا منفي نه شي کېدى.
دويم : که، $E=\{e_1;e_2;\ldots e_n\}$ وي، نو $P(E)=P(e_1)+P(e_2)+\ldots+P(e_n)$ باورلري
(بيلګه دانه يا سترګيز مکعب)
دريم : د ټول A او B پيښو لپاره باور لري
$P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$

څلورم : د ټول C پيښو لپاره باور لري: $P(\overline{C})=1-P(C)$ (ينبي او برعکس يا مخامخ پيښې)

دتمرينونو حل (اوبى):؟؟؟؟؟؟؟؟
يوه دانه (سترګيز مکعب) يو وارِ غورځول کيږي. دوه پېښې کره کيږي يا منځ ته ارځي:
A : د سترګيو عدد يا ګڼ له4 لوى دى.
B : د سترګيو عدد له *1* لوى دى.
يوه نوې پيښه په لاندې ډول پيښيږي:
C : د سترګيو عدد له 4 لوى يا د سترګيو عدد ناجوړه او يا له *1* لوى دى.
پيښه C د A اوB يوه د يا - ترنه ده.
د P (C) احتمالوالى و ټاکئ.

لومړى د A او B نتيجې جوړوو.
$A=\{5;6\}\quad B=\{3;5\}$
د جمعي قانو له مخې اوس شمېرو:
$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)$$
د دې لپاره د $A\cap B$ نتيجه ډېرى يا نتيجه سټ $A\cap B=\{5\}$ ته اړتيا لرو.

د يوګونو پيښو احتمالوالى دى:
$$P(A)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(B)=\frac{1}{6}+\frac{1}{6}=\frac{2}{6}=\frac{1}{3}\quad P(A\cap B)=\frac{1}{6}$$
له دې سره د C احتماوالى دى:
$$P(C)=P(A\cup B)=P(A)+P(B)-P(A\cap B)=\frac{1}{3}+\frac{1}{3}-\frac{1}{6}=\frac{2}{6}+\frac{2}{6}-\frac{1}{6}=\frac{3}{6}=\underline{\underline{\frac{1}{2}}}$$

د تمرین حل (اوبی) :
یوه دانه (سترګیز مکعب) یو وار غورځول کیږي. دوه پیښې کره کیږي یا منځ ته ارځي:
A : د سترګیو عدد یا ګڼ له4 کوچنی دی.
B : د سترګیو عدد 4 یا 5 دی.
یوه نوې پیښه په لاندې ډول پیښیږي:
C : د سترګیو عدد له 4 کوچنی یا د سترګیو عدد 4 دی.
پیښه C د A اوB یوه د یا - تړنه ده.
د P (C) احتمالوالی و شمیرئ.

تمرین:
یوه کارته له یوه لوبو کرتو څخه، چې ۳۲ کارتې لري راباسل کیږي(سکاټ) لاندې پیښه کوم احتمالوالی لري؟
E : راباسل شوې کارته یا څیره کارتې ده او یا یوه د پشې کارته.

د ا پیښه E یو د او-تړنه ده د پیښو څخه:
A : غوښتونکې کارته یو څیره کارته ده.
B : پلټونکې کارتې یوه د پشې کارته ده.
لومړی د A او B پیښو ممکنه تعداد ټاکو.
A : له ټولو32 کارتو څخه ۱۲ څیره کارتې دي.
B : له ټولو 32 کارتو څخه ۸ د پشې کارتې دي.
د زیاتون قاعدې یا د جمعې قاعدې له مخې شمېرل کیږي:

$$P(C) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B)$$

د دې لپاره د $A \cap B$. ممکنه پیښو ته اړتیا لرو.
$A \cap B$. : د پشې ۳ څیره کاتې شتون لري(غلام، ماتکه، پاچا)
د یوګونو پیښو احتمالوالی دی:

$$P(A) = \frac{12}{32} \quad P(B) = \frac{8}{32} \quad P(A \cap B) = \frac{3}{32}$$

له دې سره د C احتمالوالی دی:

$$P(C) = P(A \cup B) = P(A) + P(B) - P(A \cap B) = \frac{12}{32} + \frac{8}{32} - \frac{3}{32} = \underline{\underline{\frac{17}{32}}}$$

اتم - شرطيز احتمالوالی

شرطيز احتمالوالی

د سترګي (سترګيز مکعب) په زيات-ځله غورځوني کې چې د1 او 6 ترمنځ يو ټاکلی عدد وغورځوي د پخوانۍ غورځوني په واک نې ده دی.

هره غورځونه د تېرې غورځوني خپلواکه ده. د دې برعکس يا په ځتې که له يوه مرتبان ، چې د بېلګې په توګه د دوه رنګونو سره غونډاري په کې پراته وي يو په بل پسې يو غونډاری بې له بېرته وراجونې راووستل شي، نو د يوې ټاکلې پېښې احتمالوالی د تېرې پېښې په واک کې دی.

په دې حالت کې د شرطيز احتمالوالي څخه غږېږو.

پيل بيلګه:

په يوه مرتبان کې 100 غونډاري (غونډسکې) پراته دي.

70 غونډاري له له لرګيزو موادو جوړ دي او 30 غونډاري له مسنوعي موادو.

25 د لرګي غونډاري سره او 45 شنه دي .

10 له پلاستيک جوړ غونډاري سره دي او20 شنه.

لاندې پېښې تعريُيږي:

A: غونډاری له لرګي دی. $\overline{A}$: غونډاری له مصنوعي موادو جوړ دی.

B: غونډاری سور دی. $\overline{B}$: غونډاری شين دی.

غونډاري دوه نخښې لري د هر دوه ډولونو يا ارزښتونو سره

Merkmal I	Ausprägung	Merkmal II	Ausprägung
Material	A: Holz $\overline{A}$: Kunststoff	Farbe	B: rot $\overline{B}$: grün

پورته له کيڼ پورته څخه کښته په ترتيب ښي لورته:

نخښه۱، مواد، په نخښه ونه يا نخښه وړنه، لرګی، مصنوعي مواد، نخښه ۲ رنګ، نښه وړنه، سور ، شين.

دا شي حالت کيدی شي په يوه ډېرپټي ډوله يا ډېرمخيزه تخته انځور شي.
نور لغات له پورته واخلی او دا پاتې يې جمعه يا زياتون دی.

		Merkmal II (Farbe)		
		B: rot	$\overline{B}$: grün	Summe
Merkmal I Material	A: Holz	25	45	70
	$\overline{A}$: Kunststoff	10	20	30
	Summe	35	65	100

له مرتبان څخه يو غونډاری توکلي راوستل کيږی.

د تختې د داتا سره کيدی شي لاندې احتمالوالی سيده و شميرل شي:

$$P(A) = \frac{70}{100} = \frac{7}{10} = 0{,}7 \qquad P(\overline{A}) = \frac{30}{100} = \frac{3}{10} = 0{,}3$$

$$P(B) = \frac{35}{100} = \frac{7}{20} = 0{,}35 \qquad P(\overline{B}) = \frac{65}{100} = \frac{13}{20} = 0{,}65$$

$$P(A \cap B) = \frac{25}{100} = \frac{1}{4} = 0{,}25 \qquad P(A \cap \overline{B}) = \frac{45}{100} = \frac{9}{20} = 0{,}45$$

$$P(\overline{A} \cap B) = \frac{10}{100} = \frac{1}{10} = 0{,}1 \qquad P(\overline{A} \cap \overline{B}) = \frac{20}{100} = \frac{2}{10} = 0{,}2$$

اړونده ډېر مخيزه (ډېرساحه وي) تخته

	B	$\bar{B}$	Summe
A	$P(A\cap B)=0{,}25$	$P(A\cap\bar{B})=0{,}45$	$P(A)=0{,}7$
$\bar{A}$	$P(\bar{A}\cap B)=0{,}1$	$P(\bar{A}\cap\bar{B})=0{,}2$	$P(\bar{A})=0{,}3$
Summe	$P(B)=0{,}35$	$P(\bar{B})=0{,}65$	1

يو ځوک يو غونډارى را وباسي اوله لاس سره يې احساسوي، چې دا غونډارى له پلاستيک جوړ دى.

د دې لپاره احتمالوالى څومره لوي دى، چې د ده په لاس کې غونډارى شيندى؟

دا احتمالوالى نه دى، چې له هغې سره سړى له مرتبان څخه شين پلاستيکي غونډارى ر ا باسي.

له دېر تخته جوړ جدول څخه نه شي کېدى غوښتل شوى احتمالوالى وشمېرل شي.

د يوې پېښو ونې سره اوس کېدى شي دا احتمالوالى روښانه شي.



اړيکي $P_A(B)$، په دې معنا دي چې:

د B احتمالوالی د شرایطو لاندې، چې A پېښه منځ ته راغلې ده.

دا احتمالوالی شرطیز احتمالوالی یا ،،احتمالوالی د شرط سره،، بولو.

نسبت پوښتني کولو ته $P_{\bar{A}}(\bar{B})$ غوښتل کیږي.

په ویونو (لغاتو) : احتمالوالی ځومره لوي د یوه شنه غونډاري د راوستني لپاره، که سرې یوه شي چې راوستلی غونډاری د پلاستیک دی.

د یو ع احتمالوالي په لټه کې یو،چې دیوه شر ط په واک کې وي.

په دې حالت کې شرط دی؛ راوستلی غونډاری پلاستیک دی.
د دې لپاره چې په ونه دیاګرام کې پاتې احتمالوالی وشمېرلی شو، د تار ضرب قانون څخه مار اخلو:

$$P(A)\cdot P_A(B) = P(A\cap B) \Leftrightarrow P_A(B) = \frac{P(A\cap B)}{P(A)}$$

قانون، له هغه چې د شرط احتمالوالی شمېرل کیږي د انګرېزي شمېرپوه توماس بای Thomas Bayes (1702 – 1761) پسې ځي او له دې امله د بای- قانونBayes په نامه یادیږي او یا د بای جملې په نامه.

$$P_A(B) = \frac{P(A\cap B)}{P(A)}$$

که A اوB پېښې وي د $P(A) \neq 0$ سره، نو باور لري:

$$P_A(B) = \frac{P(A\cap B)}{P(A)} = \frac{5}{20} : \frac{7}{10} = \frac{5\cdot 10}{7\cdot 20} = \frac{5}{14} \approx 0,36$$

$$P_A(\bar{B}) = \frac{P(A\cap \bar{B})}{P(A)} = \frac{9}{20} : \frac{7}{10} = \frac{9\cdot 10}{7\cdot 20} = \frac{9}{14} \approx 0,64$$

$$P_{\bar{A}}(B) = \frac{P(\bar{A}\cap B)}{P(\bar{A})} = \frac{2}{20} : \frac{3}{10} = \frac{2\cdot 10}{3\cdot 20} = \frac{1}{3} = 0,\bar{3}$$

$$P_{\bar{A}}(\bar{B}) = \frac{P(\bar{A}\cap \bar{B})}{P(\bar{A})} = \frac{4}{20} : \frac{3}{10} = \frac{4\cdot 10}{3\cdot 20} = \frac{2}{3} = 0,\bar{6}$$

که ځوک یوه وي، چې راوستلی غونډاری د پلاستیک جوړدی، نو د دی لپاره احتمالوالی ،

چې شین رنګ راباسل شي،دی: 2/3. د دې برعکس دیوه شنه پلاسفیک غونډاري راوستل 0,2 دی.

یو بل ډول ورننوتنه:

یو مرتبان درې شنه او دوه سره ِغونډاري خوندي لري.

دوه غونډاري یو بل پسې بې له بېرته وراچولو روستل کیږي.

A : په لومړی راوستنه کې شین راوستل کیږي.

B : په دویمه راوستنه کې شین راوستل کیږي.

C: شین په لومړی او دویمه راوستنه کې شین راوستل کیږي.

D : شین په دویمه راوستنه کې له دې امله راوستل کیږي، چې شین په لومړي ځل تیار راوستل شوی وي.

د ټولو پېښو احتمالوالی ټاکل کیږي.

د ونې دیاګرام د تار احتمالوالي سره دا اړوندوالی روښانه کوي.



د ونه دیاګرام څخه لاندې نتیجې لاس ته راځي:

په لومړۍ راوستنه کې شین : $P(A)=3/5 = 0,6$ او

په دویمه راوستنه کې شین: $P(B) = \frac{3}{10} + \frac{3}{10} = \frac{6}{10} = \frac{3}{5} = 0,6$

په لومړۍ ر اوستنه کې شین او دویمه راوستنه کې شنه لپاره د تار ضرب قانون له مخې لرو:

$$P(C) = P(A \cap B) = \frac{3}{5} \cdot \frac{1}{2} = \underline{\underline{\frac{3}{10}}}$$

$P(D)= 1/2$ لوستل کیږي.

د $P(D)$ ارزښت مو په لاندې ډول لاس ته راوړ:

د نیونو (فرضیو) لاندې چې په لومړۍ راوستنه کې سپین راوه وستل شو، او نور دوه شنه او دوه سره غونداري په مرتبان کې شتون لري.

د شنه راوستنې لپاره په دویمه راوستنه کې $1/2$ دی.

د D احتمالوالي لپاره (شین په دویمه راوستنه کې) د نیونو (فرضیو) (شین په لومړۍ راوستنه کې) چې A منځ ته راغلی، په نخښونه یا نخښه کونه. $P(D) = P_A(B)$ تاکل کیږي.

په انځور شوي حالتکې باور لري: $P_A(B) = \frac{1}{2} \qquad \left(\neq P(B) = \frac{3}{5} \right)$

د پسې کتنې لپاره د تاردیاګرام د برخډېرۍ(قطاع) په جوړ کې ده، داسې چې $P_A(B)$ منځ ته راشي.



پوښتنه د احتمالوالي $P_A(B)$ پسې کيږي، نو پورته مساوات په لاندې ډول بڼه بدلېدی شي:

$$P_A(B) = \frac{P(A \cap B)}{P(A)} \quad \text{für } P(A) \neq 0$$

$P_A(B)$ د B يو احتمالوالی دی د شرايطو لاندې، چې A تياره منځ ته ارغلی دی.

موږ دا قانون د مخ ته پرتې نتيجې سره ازمايو

$$\begin{aligned} P(A \cap B) &= \frac{3}{10} \\ P(A) &= \frac{3}{5} \end{aligned} \quad \Rightarrow \quad P_A(B) = \frac{P(A \cap B)}{P(A)} = \frac{\frac{3}{10}}{\frac{3}{5}} = \frac{3 \cdot 5}{3 \cdot 10} = \underline{\underline{\frac{1}{2}}}$$

د دې مرتبان تجربې څخه (ډېرواره راوستل بې له بېرته وراچوني) روښانه څرګندېږي، چې چې د هرو بلو يا نورو راوستنو احتمالوالی د مخه تيرې راوستنې په واک کې دی. په داسې حالت کې سړی وايي، چې نتيجې يو د بل په واک کې دي(يو د بل تابع دي).

د پيښو خپلواکوالی

د يوه مرتبان تجربې سره(ډېرواره راوستنه د بيرته وراچوني سره)، بيل شرايط تل بېرته منځ ته راځي يا ساتل کيږي، چې د هرې پسې راوستنې لپاره شرايط برابر پاتې کيږي، لکه د لومړۍ راوستنې شرايط.

په داسې حالت کې سړی وايي، چې پيښې يو له بل خپلواکې دي.

يو مرتبان درې شنه او دوه سره غونډاري خوندي لري.

دوه غونډارۍ پرلپسې د بېرته ايښوني يا وراچوني راوستل کيږي.

څلور پيښې تعريفيږي:

A : په لومړۍ راوستنه کې شين راوستل کيږي.

B : په دويمه راوستنه کې شين راوستل کيږی.

N: شین په لومړی او دویمه راوستنه کې راوستل کیږی.

D: شین په دویمه راوستنه کې راوستل کیږي، په دې شرط، چې ګرون هودا اوس په لومړی راوستنه کې راوستل شوی دی.

ونه دیاګراک د اړونده تارونو احتمالوالي سره :



$$P(gg) = \frac{3}{5} \cdot \frac{3}{5} = \frac{9}{25} = 0{,}36$$

$$P(gr) = \frac{3}{5} \cdot \frac{2}{5} = \frac{6}{25} = 0{,}24$$

$$P(rg) = \frac{2}{5} \cdot \frac{3}{5} = \frac{6}{25} = 0{,}24$$

$$P(rr) = \frac{2}{5} \cdot \frac{2}{5} = \frac{4}{25} = 0{,}16$$

له وني دیاګرام څخه لاس ته راځي:

په لومړی راوستنه کې شین: $P(A) = 3/5 = 0{,}6$

په دویمه راوستنه کې شین: $P(B) = \frac{9}{25} + \frac{6}{25} = \frac{15}{25} = \frac{3}{5} = 0{,}6$

د شنه لپاره په لومړی راوستنه کې او شین لپاره په دویمه راوستنه کې د تارضربقانون له مخې لاس ته راځی

$$P(C) = P(A \cap B) = \frac{3}{5} \cdot \frac{3}{5} = \underline{\underline{\frac{9}{25}}}$$

$P(D) = \frac{3}{5}$ لوستل کیږي.

احتمالولی یو شین غونډاری چې راوباسو برابر پاتيږي، ځکه چې د غونډاري د بېرته وراچوني سره پيل حالت بېرته برقراريږي.

د دويم ځل د شنه راوستني لپاره همغه د لومړي ځا د راوستني سره بېرته برابريږي $P(D) = P_A(B)$ دی.

د ونې دياګرام څخه یوه برخه:

په لاندي کې Pfadmultiplikaionsregel د تارضربقانون په معنا دی.



د نتيجو په ليستکونه راکوي:

$$P_A(B) = \frac{3}{5}$$

$$P(B) = \frac{3}{5}$$

$$P(A) = \frac{3}{5}$$

نو لرو:

$$P_A(B) = P(B)$$

له دې سره د تارضربقانون لپاره باور لري:

$$P(A \cap B) = P(A) \cdot P(B)$$

که ولرو $P_A(B) = P(B)$ ، نو د پېښې A پېښېدنه د B احتمالوالي باندې کومه اغيزه نه لري.

سرۍ وايي، چې پېښه A او B يو له بل خپلواکې دي.

خپلواکې پېښې:

پېښنه B له پېښې A خپلواکه ده، که د A د پېښېدنې څخه د B دپېښېدنې لپاره احتمالوالی بې اغېزه وي (خپلواک).

باور لري: $P_A(B)=P(B)$ د $P_A(B)=\frac{P(A\cap B)}{P(A)}$ سره.

ب

يلګه : له مرتبان راوستنه د بيرته وراچونې سره.

په ياد ولرئ: د دوه پېښو A او B پېښې د يو له بل خپلواکوالی ښوونې لپاره په لاندې توګه مخ ته ځو:

شمېرل کېږي $P(A); P(B)$ او $P(A\cap B)$

باور لري: $P_A(B)=P(B)$ د $P_A(B)=\frac{P(A\cap B)}{P(A)}$، سره .

نو پېښې A او B يو له بل خپلواکې دي، په بل حالت کې يا پرته له دې پېښې A او B يو د بل په واک کې دي.
په ونه دياګرام کې دپېښو خپلواکوالی له دې څخه پېژندل کېږي، داسې چې په دويمه پوړۍ کې د ونې دياګرامونه برابر دي. که برعکس ياپه ځېنې دا يو له بل مختلف وي،نو پېښې بيا يو د بل په واک کې دي.

بيلګه ۱: د يوه ښه جوړ شوي (ideal)سترګيز(سترګيز مکعب) په لاندې توګه رنګه شوي دي.

دوه اړخونه دسره رنګ سره او دوه د شنه رنګ سره رنګين شوي. يوه اړخسطحه توره او بله اسماني رنګ شوي دي.

غونډاری دوه واره غورځول کېږي. لاندې پېښې تعريفيږي:

A : په لومړی اچونې سره رنګ سور يا تور لوېږي يا منځ ته راځي.

B : په دويمه غورځونه کې رنګونه شين يا تور را څرګنديږي.

و ښيرى، چې پېښې A او B يو له بل خپلواکې دي؟

له مخه پام يا فکرکونه : $P(r) = P(g) = 2/6 = 1/3$ او $P(s) = P(b) = 1/6$

د $P(A);\ P(B)$ او $P(A \cap B)$ شمېرنه

$A = \{(rx);(sx)\}$ د x=په خوښه <= $P(A)=P(r) + P(s) = 1/3 + 1/6 = 1/2$

$B = \{(xg);(xb)\}$ د x= په خوښه <= $P(B)=P(g)+P(b)= 1/3 + 1/6 = ½$

$$A \cap B = \{(rg);(rb);(sg);(sb)\} \Rightarrow P(A \cap B) = P(rg)+P(rb)+P(sg)+P(sb)$$
$$= \frac{2}{6}\cdot\frac{2}{6}+\frac{2}{6}\cdot\frac{1}{6}+\frac{1}{6}\cdot\frac{2}{6}+\frac{1}{6}\cdot\frac{1}{6} = \frac{4}{36}+\frac{2}{36}+\frac{2}{36}+\frac{1}{36} = \frac{9}{36} = \frac{1}{4}$$

نتيجه : $P(A) = \frac{1}{2};\ P(B) = \frac{1}{2};\ P(A \cap B) = \frac{1}{4}$

دوه پيښې A او B يو له بل خپلواکې دي، که باور ولري:

لاندې الماني: خپلواکوالى

